د اسلامپوهنې لړۍ (۱)

# د اسلام اعتقادي اصول

## (توحید، نبوت، معاد)


څېړنه؛

**اجرالدین اقبال**

بسم الله الرحمن الرحيم

مخخوړ:
د کتاب نامه: د اسلام اعتقادي اصول
موضوع: (توحید، نبوت، معاد)
څېړنه: اجرالدین اقبال
د چاپ وار: لومړی –
د چاپ وار: دویم-
د چاپ وار: دریم
خپروونکی: اندیال؛ دیني، علمي، فرهنگي او خپرندویه ټولنه
www.andyal.com
بیه: ۷۵ افغانۍ

لړلیک

سریزه .............................................. ۸
د عقیدتي اصولو لومړی اصل ...................... ۱۰
توحید.................................................. ۱۰
د توحید دلایل: ........................................ ۱۲
لومړی: قرآني آیتونه..................................... ۱۲
دویم عقلي دلایل ...................................... ۱۲
ب- د خدایانو په شتون کې د کایناتو ویجاړېدل ............ ۱۵
۱-د صرف الوجود دلیل: ................................ ۱۶
۲-عملي دلیل: ........................................... ۱۶
۳-ټولو انبیاوو علیهم السلام، خلک الله لمانځنې ته رابلل ..... ۱۷
د توحید څانګې ........................................ ۱۹
۲-په صفاتو کې توحید.................................... ۲۰
۳-په عبادت کې توحید: .................................. ۲۰
۴-افعالي توحید: ........................................ ۲۱
د افعالي توحید څانګې: .................................. ۲۲

۱-په خالقیت کې توحید:........................................ ۲۲
۲-په ربوبیت کې توحید: ........................................ ۲۲
۳-په قانون جوړولو (تشریع) کې توحید: ........................ ۲۳
۴-په مالکیت کې توحید:........................................ ۲٤
۵-په حاکمیت کې توحید:........................................ ۲۵
٦-په اطاعت کې توحید:........................................ ۲۷
اسماء الله ........................................ ۲۹
د عقیدتي اصولو دویم اصل ........................................ ۳۱
نبوت ........................................ ۳۱
الف- د پیغمبرانو نبوت:........................................ ۳۱
ب-د حضرت محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) نبوت ....... ۳۳
د نبوت دندې........................................ ٤٤
د پیغمبرانو علیهم السلام ډولونه........................................ ٤۹
(الف) تشریعي پیغمبران:........................................ ۵۰
(ب) تبلیغي پیغمبران ........................................ ۵۱
د پیغمبرانو مبارزاتي دود........................................ ۵۱

د حضرت محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) سنت ........... ۵۹
د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ځانګړې کړنلار: ۶۰
د ټولنیزو مبارزو د سمونې درې نغوت دودونه ................ ۶۱
د مشرۍ رسالت د علماوو پر غاړه دی ........................ ۶۹
د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) اخلاقو ته لنډه کتنه . ۷۷
د عقیدتي اصولو دریم اصل؛......................................... ۱۰۴
معاد او قیامت......................................................... ۱۰۴
د قیامت دلایل ........................................................ ۱۰۷
۱-نقلي دلایل ......................................................... ۱۰۷
۲-علمي او طبیعي دلایل ............................................. ۱۰۹
۳-فلسفي دلایل ....................................................... ۱۱۱
ب- قیامت د الهي عدل/نیاو په رڼا کې ............................ ۱۱۳
ج- قیامت د الهي حکمت په رڼا کې ................................ ۱۱۵
د- د الله تعالی ژمنه.................................................. ۱۱۶
د مرګ منځپانګه ..................................................... ۱۲۱
تر مرګ روسته ژوند ................................................. ۱۲۵

لوی قیامت ........................................ ۱۳۱
د دنیوي ژوند او اخروي ژوند ترمنځ اړیکه ..................... ۱۳۳
د انسان د کړنو انځورنه ................................ ۱۳۶
د دنیوي او اخروي ژوند ترمنځ ګډ او بېل ټکي ................. ۱۳۸
د قیامت په اړه د قرآن کریم دلایل .......................... ۱۴۰

# سریزه

د اسلام دین له درېیو برخو جوړ شوی دی.

۱-عقیدتي اصول

۲-عملي برخه

۳-اخلاقي او انساني فضایل.

د اسلام «عقیدتي اصول»؛ «توحید، نبوت او معاد» دي، که څوک له دې منکر شي، مسلمان نه دی؛ ځکه پر دې اصولو ایمان درلودل یا نه درلودل د «مسلمان او کافر» ترمنځ بېلښت دی.

د اسلام د اصولو په مننه کې باید د قرآني دود لاروي وکړو او هغه دا:

وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ[1]= او په هغه څه پسې مه ځه، چې پوه پرې نه يې))

---

[1] (اسراء\ ۳۶)

حضرت امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وایي: «بي دلیله زما پر فتوا عمل کول حرام دي.»

نو پر اعتقادي اصولو؛ خو باید د بصیرت، پوهې او دلیل له لارې ایمان راوړو او «بې له دلیل او چورلټ ډاډ، د بل لاروي سمه نه ده.»

موږ دلته د خویندو او رونړو د «عقیدتي» کچې د لوړولو لپاره د «اسلام عقیدتي اصول» په لنډه تر غور لاندې نیسو. هیلمن یو، په دې باب د زیاتو معلوماتو لاس ته راوستو لپاره دا څو کرښې د سریزې ونډه ولري.

په دیني مینه

# د عقیدتي اصولو لومړی اصل

## توحید

په قرآن کریم کې تر غور روسته څرګندیږي، چې د انبیاوو علیهم السلام خوځښتونو خپلې اصلاحي برنامې په دې توګه پیل کړې وې چې «شرک» یې نفې کاوه او «توحید» یې زباداوه او د ټولو ړومبۍ خبره دا وه:

«یَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ[1] = قومه! الله ولمانځئ، چې بې له ده معبود نشته!»

د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم هم خپله کړلار د توحید پر شعار پیل کړې وه او هغه دا:

---

[1] هود| ۸۴

«قولوا لا اله الا الله تفلحوا» يعنې ووايئ چې بې له الله تعالی بل معبود نشته، چې فلاح ومومئ.
نو د اسلام بنسټ پر توحيد ولاړ دی.
په تفسير نمونه کې راغلي دي: «الله اسم خاص دی، چې دا نوم بې له الله تعالی پر بل چا نه اطلاق کېږي.
ځيني وايي چې د «الله» سپېڅلې کلمه له «وله» (د تحير پر مانا) اخستل شوې؛ ځکه د هغه پاک ذات ته عقلونه حيران دي.
«الله»، معبود دی، چې خلک ورته حيران دي، ورسره مينه لري.
«الله» هماغه دی، چې د سترګو له درکه پټ (مستور) او له افکارو او عقلونو څخه په پرده کې دی (محجوب).
ځينو هغه د الاهة (د عبادت په وزن او مانا) له جرړې ګڼلی او په اصل کې (الا له) دی؛ يعنې «يوازېنی حق معبود».
«الله» هغه ذات، چې ټول کماليه اوصاف پکې راټول شوي او له هر ډول عيب او نيمګړتيا پاک او سوتره دی.
دا سپېڅلې نامه په قرآن مجيد کې نژدې «زر ځل» تکرار شوې، چې نورې سپېڅلې نامې يې په قرآن کريم کې په دې اندازه نه

دي راغلي. «الله» داسې سپېڅلې نامه ده، چې زړونه روښانوي او انسان ته ځواک او هوساینه وربښي.»

**د توحید دلایل:**

دلته د «توحید» د زباد لپاره لومړی قرآني آیتونه او بیا عقلي دلایل راوړ:

**لومړی: قرآني آیتونه**

الف- د طبیعت د اجزاوو پیوستون یا د کایناتو نظم.

ب- د خدایانو په شتون کې د کاینانو ویجاړېدل.

**دویم عقلي دلایل**

اوس پورته دلایل په اوډون تر غور لاندې نیسو:

لومړی: قرآني آیتونه

الف- د طبیعت د اجزاوو پیوستون یا د کایناتو نظم

کایناتو او طبیعت ته له کتنې جوتېږي، چې د لمر، سپوږمۍ او ځمکې ترمنځ اړیکه او پیوستون شته، له لمره د ځمکې له چورلیدو څلور فصلونه او پر خپل چورلیځ د ځمکې له څرخېدو

شپه او ورځ پیدا کېږي، پر سمندرونو د لمر وړانگو د لگیدو له لامله اوبه بخارېږي او پر وریځو اوړي، پر ځمکه د هوا د درجې د اختلاف له لامله بادونه منځ ته راځي او بیا بادونه د وریځو د انتقال لامل گرځي او د واورې او باران په توگه پر غرونو اوري او په دې توگه غرونه د رودونو او ویالو طبیعي زېرمې گرځي، رودونه خپل شاوخوا خړوبوي او زرغونوي او د ډول ډول نباتاتو او بوټیو د راټوکېدو لامل گرځي او په دې توگه څاروي او انسانان د رودونو او ویالو تر غاړو مېشتېږي. نباتات او بوټي د باران او رودونو له اوبو وده مومي او څاروي له ویالو او بوټو تغذیه کېږي او بالاخره د انسان ژوند پر اوبو، نباتاتو او حیواني محصولاتو ولاړ دی؛ نو که موږ دلته ځیر شو، راته به جوته شي، چې د طبیعت د بیلابیلو اجزاوو ترمنځ اړیکه، پیوستون او یو رنگي شته، چې دا د طبیعت او کایناتو د خالق او پنځگر پر «وحدانیت» دلالت کوي.

۱ ((وَإِلَـهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاء مِن مَّاء

فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ[1] = او ستاسې معبود ايکي يو معبود دی، بې له ده معبود نشته، هماغه لوراند لورين دی. بېشکه، د اسمانونو او ځمکې په پنځون کې، يو په بلې پسې د شپې او ورځې په راتګ کې، په هغو بېړيو کې، چې د خلکو د ګټې لپاره په سمندرونو کې ګرځي؛ اوبه چې الله له پاسه را وروي او مړاوې ځمکه پرې راژوندۍ کوي او ډول ډول خځنده يې پکې خواره کړي او (همداراز) د بادونو په لګولو کې او په هغو ورېځو کې، چې د اسمانونو او ځمکې ترمنځ ايل دي (؛ نو دا) عقلمنو ته (د يوه پاک ذات) نښې دي.))

[1] بقره| ۱۶۳-۱۶۴

**ب- د خدایانو په شتون کې د کایناتو ویجاړېدل**

((لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا[1]= که په دوی (اسمان او ځمکه) کې بې له "الله" (ګڼ) خدایان وای؛ نو هرومرو (د اسمان او ځمکې) د واړو (نظام) ویجاړېده))

((قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّابْتَغَوْا إِلَىٰ ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا[2]= ووایه: ((که له الله سره نور معبودان وای؛ لکه چې دوی وايي؛ نو هرومرو به يې د عرش د څښتن لوري ته (د جګړې يا نژدېکت لپاره) لار لټولې وای.))

**دویم: عقلي دلايل**

د الله تعالی توحید، پر ډېرو عقلي دلایلو زبادولای شو، چې دلته په لنډو څو دلایلو ته اشاره کوو:

---

[1] انبیاء\٢٢

[2] اسراء\ ٤٢

### ۱-د صرف الوجود دليل:

ددې دليل لنډ مطلب دا دی چې الله تعالی «مطلق وجود» دی او هيڅ قيد، شرط او حد ورته نشته، چې طبعاً دغسې «وجود» نامحدود وي؛ ځکه که «محدود» وي؛ نو نيست (عدم) کېږي او د الله تعالی له سپېڅلي ذاته، چې هستي راولاړېږي؛ کله به هم د نېستی غوښتنه او تقاضا و نه کړي او بهر داسې څه نشته، چې پر هغه باندې نيستي ور و تپي؛ نو ځکه الله تعالی په هيڅ حد پورې محدود نه دی.

بلخوا کله هم په عالم کې د دوو نامحدودو هستيو تصور کېدای نشي؛ ځکه هر يو به يو رنګه کمالات و نه لري، يو به، يو راز کمال لري او بل به بل راز؛ ځکه دواړه محدودېږي، چې دا پخپله د «واجب الوجود» ذات پر وحدانيت څرګند دليل دی. (ښه ځير شئ)

### ۲-عملي دليل:

په لومړي سر کې کايناتو ته له کتنې جوتېږي، چې ګنې ځمکه، آسمان، لمر، سپوږمۍ، ستوري، رنګارنګ بوټي او څاروي، دا

ټول یو له بله بیل، خواره واره او بې اړیکې دي؛ خو څومره چې ځیر شو؛ نو راڅرګنده به شي، چې د موجوداتو د اجزاوو ترمنځ اړیکه او پیوستون شته، چې ټولو یوه تنه جوړه کړې او پر ټولې هستۍ، یو لړ ټاکلي قوانین حکومت کوي.

څومره چې بشري علم او پوهه پر مخ ځي، هومره د طبیعت د اجزاوو ترمنځ انسجام او اړیکه ښه څرګندېږي. د مثال په ډول، نیوټن له ونې د منې له لویدو د «جاذبې عمومي» قانون رابرسېره کړ؛ یعنې د یوې وړې بېلګې له ازمایښته څرګنده شوه، چې پر هستۍ یو «ستر قانون حکومت» کوي.

نو د هستۍ د نظام له یووالي، پرې واکمنو قوانینو او د دوی د اجزاوو له انسجام او پیوستونه څرګندېږي، چې پنځګر یې هماغه ذات دی.

**۳-ټولو انبیاوو علیهم السلام، خلک الله لمانځنې ته رابلل**

ټولو انبیاوو له آدم علیه السلام نه تر حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم پورې، خلک «توحید» ته رابلل، چې دا بلنه د «توحید» د اثبات لپاره بل دلیل هم دی؛ ځکه که په عالم کې دوه واجب

الوجود وای؛ نو دواړه باید د «فیض» سرچینې وای؛ ځکه دا شونې نه ده؛ چې یو بې نهایته کامل وجود، د خپلې رڼا او فیض په خپرولو کې بخل او کنجوسي وکړي؛ ځکه د فیض نشتوالی (عدم) یې د کامل وجود لپاره نقص او نیمګړتیا ده او حکیم والی یې دا غواړي، چې ټولو ته یې فیض ورسي. دا فیض دوه څانګې لري:

په طبیعت کې «تکویني فیض» او په هدایت او لارښوونې کې «تشریعي فیض».

نو که ډېرو خدایانو شتون درلودای؛ باید ټولو خپل استازي رالېږلای، چې خلک یې له تشریعي فیض نه برخمن شوي وای.

حضرت علي کرم الله وجهه خپل زوی امام حسن (رض) ته نصیحت کوي او وايي:

«که پالونکی دې شریک درلودای؛ نو استازي یې درته رالېږل او د هغه د ملک او سلطنت نښې به دې لیدلې وای او د هغه د افعالو او صفاتو سره به آشنا شوی وای؛ خو هغه واحد معبود دی؛ داسې چې خپل ځان یې پخپله توصیف او ستایلی دی.»

د الله تعالی ذات، د هر ډول اجزاوو له ترښته پاک او سوتره دی؛ ځکه که خارجي اجزاوې ورته وای؛ نو طبعاً به ورته اړ وای؛ حال دا، د واجب الوجود لپاره اړتیا نامعقوله ده.
او که عقلي اجزاوې (د منځپانګه او وجود ترښت یا د جنس او فصل ترښت) منظور وي؛ نو دا هم محال دی؛ ځکه د «منځپانګه او منځپانګې» او «وجود» ترښت، په محدود والي پورې اړه لري حال دا، د هغه وجود نامحدود دی او د «جنس» او «فصل» ترښت، په منځپانګه پورې اړه لري؛ نو څه چې منځپانګه و نه لري؛ نو «جنس» او «فصل» خو به هرومرو نه لري.

## د توحید څانګې

معمولاً د توحید لپاره څلور څانګې یادوي[1]:
۱-په ذات کې توحید[2]

[1] په دې برخې کې د «تفسیر نمونه» له (۲۷) ټوکه ګټنه کوو.
[2] (هغه چې پورته ووېل شو)

**۲-په صفاتو کې توحید**

یعنې صفات یې له ذاته جلا نه دي او نه یې صفتونه یو له بله بېل دي؛ د بېلګې په توګه: «علم» او «ځواک» زموږ دوه صفتونه دي، چې زموږ له وجوده بېل دي. زموږ وجود بېل دی، علم او ځواک مو نور څه دي. دغسې په موږ کې علم او ځواک هم یو له بله بېل دي، زموږ روح د علم مرکز، متې او غړي مو د جسماني ځواک مرکز دی؛ خو د الله تعالی صفتونه پر ذات «زائد= زیات» نه دي او نه یو له بله بېل دي (صفات یې نه عین ذات دي او نه یې بې له ذاته دي)؛ بلکې وجود یې ټول علم، ټول ځواک، ټول ازلیت او ابدیت دی.

او که بې له دی وي؛ نو ترکیب او ترښت ورته لازم دی او که مرکب وي؛ نو اجزاوو ته اړ دی او چې اړ شي؛ نو کله هم واجب الوجود کېدای نشي.

**۳-په عبادت کې توحید:**

یوازې باید الله تعالی ولمانځو. بې له ده نور د لمانځلو او عبادت وړ نه دی؛ ځکه باید د داسې چا عبادت وشي، چې «مطلق کمال»

او «کمال مطلق» وي، هغه چې هیڅ‌ته اړ نه وي او د ټولو نعمتونو ښونکی او د ټولو موجوداتو پنځګر وي او دا صفتونه، بې له الله تعالی، په بل چا کې نشي راټولېدای.

له عبادته اصلي موخه دا ده، چې انسان «مطلق کمال» ته د رسېدو لپاره لار پیدا کړي او د الله تعالی د کمال او جمال د صفاتو ښکارندوی شي (تخلقوا با خلاق الله) چې ددې په پایله کې، انسان له شیطاني خویونو شا اړوي او ځان جوړونې او د «نفس تهذیب» ته ورمخه کوي.

**۴-افعالي توحید:**

الله پاک مسبب الاسباب او علت العلل دی؛ یعنې هر یون او فعل چې په عالم کې سر ته رسي، سرچینه یې الله تعالی دی. ان د یوې مانا له مخې، موږ چې کوم اعمال کوو، په الله تعالی پورې اړه لري؛ ځکه هغه ځواک، اختیار او آزادي راکړې؛ نو موږ په عین حال کې چې د خپلو کړو وړو (افعالو) سر ته رسوونکي (فاعلین) او پر وړاندې یې مسوول هم یو؛ خو بلخوا الله پاک یې هم فاعل

دی؛ ځکه هر څه چې لرو، ټول د هماغه دي (الامؤثر فی الوجود الا الله).

**د افعالي توحید څانګې:**

افعالي توحید زیاتې څانګې لري؛ خو موږ یې شپږو مهمو ته اشاره کوو:

**۱-په خالقیت کې توحید:**

((قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ کُلِّ شَيْءٍ= ووایه: ((څوك د اسمانونو او ځمکې پالونکی دی؟)) ))

که موږ تېرو دلایلو ته پاملرنه وکړو؛ نو جوته به شي، چې خالق هماغه یو دی؛ ځکه واجب الوجود یو دی او بې له ده، نور ټول شونی الوجود دي؛ نو د ټولو موجوداتو خالق او پنځګر به هم یو وي.

**۲-په ربوبیت کې توحید:**

یعنې د هستۍ د نظام مدبر، مدیر او مربي، یوازې همدا الله تعالی دی.

((قُلْ أَغَيْرَ اللّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ[1]=(ورته) ووايه: ((ايا زه بې له الله بل پالونکی ولټوم، حال دا، هغه د ټولو څيزونو پالونکی دی؟!))

او دليل يې دا دی چې هماغه يو الله په هستی کې واجب الوجود او د عالم خالق دی.

**۳-په قانون جوړولو (تشريع) کې توحيد:**

((وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ[2]= او څوك چې د الله د نازل شويو احکامو له مخې پرېکړه و نه کړي؛ نو همدا دوی کافران دي.))

چې کله جوته شوه، مدير او مدبر هماغه الله تعالی دی؛ نو په رښتيا، بې له هغه نور څوک د قانون جوړولو صلاحيت نه لري؛

---

[1] انعام| ۱٦۴

[2] مائده| ۴۴

ځکه بې له هغه، نور څوک د نړۍ په تدبير کې برخه نه لري، چې له تکويني نظام سره جوښت قوانين وټاکي.

**۴-په مالکيت کې توحيد:**

حقيقي مالکيت (پر ټولو څيزونو د الله تعالی تکويني واکمني ده) ((لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ[۱]= د اسمانونو او ځمکې واکمني يوازې د هماغه ده))

او حقوقي مالکيت (پر يوه څيز باندې قانوني وکمنۍ ته وايي: ((آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ[۲]= پر الله او استازي يې ايمان راوړئ او له هغو څيزونو (د الله په لار کې) ولګوئ، چې تاسې يې پکې (د تېرو خلکو ) ځايناستي کړي ياست؛ نو له تاسې چې کومو خلکو ايمان راووړ او (د الله په لار کې يې) لګښت وکړ، ورته ستر اجر دی.))

---

۱ حديد\ ۲

۲ حديد\ ۷

او په مالکیت کې د توحید لپاره دلیل، هماغه په خالقیت کې توحید دی؛ ځکه کله چې د ټولو څیزونو خالق هماغه وي؛ نو طبعاً مالک به یې هماغه وي؛ نو هر مالکیت باید د هغه له مالکیته راولاړ شي.

**۵-په حاکمیت کې توحید:**

دا ښکاره ده، چې بشري ټولنه یون ته اړتیا لري او ډلییز ژوند، بې له حکومته شونی نه دی. د مسولیتونو ویش، د کړلارو جوړول، اداره کول، او د تیریو مخنیوی، یوازې د حکومت له لارې کېدای شي او بس.

بلخوا د انسانانو د آزادۍ اصل وایي، چې هیڅوک یو پر بل د حکومت کولو حق نه لري؛ نو له همدې ځایه، بې له «الهي حکومت»، نور ټول حکومتونه د منلو وړ نه دي؛ نو موږ د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم او بیا د حزب الله د تشکیلاتي کړیو د لومړۍ حلقې کسانو (اهل کسا= اهل البیت) حکومت او په اوسني وخت کې د عادل، متقي، باتدبیره، میړنی

او د عادي خلکو په ځېر اوسېدونکی عالم تر مشرۍ لاندې حکومتونه منلای شو او بې له دې د منلو وړ نه دي.
(البته شونې ده چې خلک یو چا ته اجازه ورکړي، چې حکومت پرې وکړي؛ خو کوم حکومت چې د عمومي رایو او اکثریت له لارې تاکل کیږي؛ نو ددې له لامله چې «الهي مشروعیت» پیدا کړي؛ باید د جامع الشرایط عالم او یا د همدغسې یوې شورۍ (اهل حل و عقد) له خوا تنفیذ شي.)
باید ووایو، چې په ربوبیت کې توحید په «تکویني عالم» او په قانون جوړولو کې توحید، په «تشریعي عالم» پورې اړه لري.
((إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ[1]= پرېکړه یوازې د الله په لاس کې ده))

---

[1] انعام| ۵۷

**٦-په اطاعت کې توحید:**

یعنې په نړۍ کې «واجب الاطاعه» مقام یوازې د الله تعالی ذات دی او د بل هر مقام د اطاعت مشروعیت باید له همدې ځایه راولاړ شي؛ یعنې د هغه اطاعت د الله اطاعت حسابیږي.

دلیل یې دا دی چې کله حاکمیت یوازې د الله وي؛ نو اطاعت هم یوازې د هماغه دی؛ نو ځکه د انبیاوو علیهم السلام او د دوی د برحقو او رښتینو وارثینو (وصیانو) اطاعت په حقیقت کې د الله اطاعت دی.

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ[1]= مؤمنانو! له الله. استازي او اولوالامر څخه مو اطاعت وکړئ))

---

[1] نساء| ٥٩

((مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ[1]= چا چې د استازي اطاعت وکړ؛ نو په حقيقت کې يې د الله اطاعت کړی))

د الله تعالی پر وحدانيت ايمان درلودل څه اغېز لري؟

((أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ[2]= ايا خواره واره (او ګڼ شمېر) پالونکي غوره دي يا ايکي يو زورور "الله" (چې پر هر څه او هر چا برلاس دی)؟!))

توحيد ټول انسانان د واحد خدای بندګی ته رابولي او په دې توګه، د ټولو انسانانو ترمنځ د وحدت او يووالي جرړې ځغلوي او له اختلاف او تفرقې يې ژغوري؛ نو که اوسنی بشري پرګنی په سمه توګه «توحيد» وپېژني او ايمان پرې راوړي؛ نو له هر ډول اختلافاتو او بې اتفاقۍ به وژغورل شي او ټول انسانان به د «يوې

---

[1] نساء/ ۸۰

[2] يوسف/ ۳۹

اسلامي ټولنې = امت» حیثیت پیدا کړي او د الله تعالی پر لوري (الیه راجعون) به خپل خوځښت ته دوام ورکړي.

## اسماء الله

«الله» هغه ذات دی، چې په قرآن مجید او احادیثو کې په نېکو نومونو او صفاتو ستایل شوی؛ کله الرحمن، علیم، خبیر، بصیر، عزیز، قوی....

د انسان اخلاقي بنسټ ددې صفاتو او نومونو پر پېژندو، پوهېدو او عمل کولو ولاړ دی؛ په دې مفهوم چې انسان د ځمکې پر مخ د الله خلیفه دی؛ نو ددې لپاره، چې د الله د خلافت مقام ته ورسي، باید الهي صفات په ځان کې پیدا کړي؛ لکه چې په حدیث شریف کې راغلي: «تخلقوا باخلاق الله» یعنې ځانونه پر الهي خویونو سمبال کړئ؛ نو په ځان کې د الهي اخلاقو د پیدا کولو لپاره، باید «اسماء الله» سم وپېژنو، سمه عقیده پرې ولرو او سم عمل پرې وکړو. د بېلګې په توګه: انسانان په ټولنیز ژوندانه کې «سولې او امن» ته اړتیا لري؛ نو باید «السَّلام» صفت پر ځان

پلی کړي. په وګړني او ټولنیز ژوندانه کې مهرباني او بښنې ته اړتیا لري، چې باید د «الرحمن الرحیم» صفات پر ځان پلی کړي. ټولنه وحدت، پیوستون، اړیکې، ځواک او عمومي ډاډ ته د رسېدو لپاره باید د الله د «المؤمن» صفت پر ځان پلی کړي. د «قوي او غني» صفاتو پلي کول به مو پر ځان اتکاء، سرلوړۍ او خپلواکۍ ته ورسوي، دغسې د عدل او انصاف ټولنې جوړولو لپاره، باید د «العدل او المقسط» پر مفهوم ځان وپوهو او بیا یې عملي کړو.

# د عقيدتي اصولو دويم اصل

## نبوت

موږ دلته لومړی په عمومي توګه د پېغمبرانو نبوت او بيا د اسلام د پېغمبر حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم نبوت تر غور لاندې نيسو.

**الف- د پېغمبرانو نبوت:**

لکه څنګه چې له اتومه نيولې تر ستوريو، ټول موجودات د الهي نظام او قوانينو له مخې مخ پر تکامل يون کوي او وينو، چې يوه دانه د ټاکلي قانون او شرايطو په صورت کې، په غټه ونه بدليږي او د شاتو مچۍ د الهي وحې له مخې، په نظم او عالي تمدن سره خپل ټولنيز ژوند پر مخ بيايي، دغسې انسان (اشرف المخلوقات) هم له دې قاعدې مستثنی نه دی، چې تکامل ته د رسېدو لپاره «الهي قوانينو» ته اړتيا لري او دا چې انسان ته د نورو موجوداتو پرخلاف اختيار ورکړ شوی او د فجور او تقوی د دوو لارو

«فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا[1]= نو ده ته يې د خپلو بدو او ښو (تشخيص) ورالهام کړ» په منځ کې درول شوی؛ نو په داسې شرايطو کې انسان لارښوونې ته اړتيا لري، چې سمه لار (تقوا) له کږې لارې (فجور) وپېژني، چې له کږلارې، پرېوتو او ځوړ خلاص او وګړيزې او ټولنيزې ګټې او دندې ور په ګوته شي.

د انسان په ژوندانه کې نبوت، هماغه «الهي قوانين» دي، چې پيغمبرانو ته وحې شوي، چې بشريت د «خير»، «صلاح» او «کمال» پر لوري مشري کړي، هماغه الله چې د شاتو مچۍ ته يې وحې ليږلې «وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ[2]= او ستا پالونکي د شاتو مچۍ ته په زړه کې (غريزه) غورځولې ده» چې ددې وحې په پايله کې، نومورې وړې حشرې، بې له دې چې د چا زدکړيالي

---

[1] شمس/٨

[2] نحل/٦٨

يې کړې وي او يا په کوم پوهنځي کې معماري زده کړې وي، په خورا نظم او عالي تمدن، خپل ټولنيز ژوند غځوي.

**ب-د حضرت محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) نبوت**

که له يوه اُمّي او نالوستي له خوا درته په علمي مطالبو خورا ښکلی ادبي ليک درکړ شي؛ نو تاسې خو عقلاً منئ چې دا ليکنه به د بل چا وي. اوس که د قرآن کريم مطالب د تاريخي مخينو او د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم له چاپېريال او ژوند سره وسنجوو؛ نو په اسانۍ، دا مو عقل مني، چې قرآن کريم په رښتينې او غوڅه توگه، د الله تعالی کلام دی؛ ځکه:

۱-تاريخي مخينې راښيي، چې حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم پلارمړی و، د عربستان له پوهې او علم نه په لرې چاپېريال کې روزل شوی و او د نورو پېغمبرانو غوندې يې د خپل عمر يوه برخه په شپنۍ کې تيره کړې او بله برخه يې په سوداگرۍ او يو عمر هم له خلکو سره و، بې له دې چې خلکو يې ليکل او لوستل ليدلي وي.

((قُل لَّوْ شَاء اللّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلاَ أَدْرَاكُم بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ[1]= ووايه: ((كه الله غوښتای؛ نو ما دا آيتونه تاسې ته نه لوستل او (الله هم زما له لارې) تاسې ترې نه خبرولی، ما خو ددې تر (راوړو) له مخه، ستاسې په منځ کې يو عمر تېر کړی دی (او هېڅکله مې هم کوم يو آيت نه و راوړی) ولې عقل نه کاروئ؟!)) ))

نو که د قرآن کريم مطالب دده خپل وای؛ نو د پوهانو او فيلسوفانو په څېر به يې له بعثته مخکې هم داسې مطالب ويلي وو؛ لکه د رسالت په پېر کې يې چې وويل.

۲-حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم په خلکو کې د «رښتين» او «امين» په نامه مشهور و، چې ټولو به ورته «محمد امين» وايه، چې ډېر کسان هم د ده د رښتيا ويلو له لامله مسلمانان

---

[1] يونس\١٦

شوي او که په دروغو یې د نبوت دعوه کړې وای؛ نو ژر یا روسته به یې دروغ څرګند شوي ول.

۳-که په دروغو یې د پیغمبرۍ دعوا کړې وای؛ نو باید له خلکو یې د «شتمنۍ»، «مال» او «مقام» غوښتنه کړې وای؛ خو چې کله اشراف او د قبایلو مشران، د ابوطالب له لارې وړاندیز ورته کوي؛ که له خپلې خبرې تېر شي؛ نو هر ډول «شتمني»، «مال» او «مقام» به ورکړي؛ خو په ځواب کې وایي: «پر الله قسم، که په ښي لاس مې لمر او کیڼ لاس کې مې سپوږمۍ کېنوئ؛ نو له خپل رسالته به لاس وانخلم».

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پخپله دعوا کې په حق او رښتونی و؛ ځکه تر زیاتې ربړ ګالنې روسته چې د ټولنې جوړولو عملي ځواک تر لاسه کوي، د یتیمانو پر ځمکه (تر بیې ورکولو روسته) جومات جوړوي او د عمر تر پایه هلته اوسي او ددې پر ځای، چې له خلکو د پیسو راټولولو تمه ولري، د نورو پیغمبرانو علیهم السلام په څېر وایي:

((يَا قَوْمِ لا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ أَجْرِيَ إِلاَّ عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي أَفَلاَ تَعْقِلُونَ[1]= زما قومه! ددې (رسالت) لپاره څه اجر درځنې نه غواړم، زما اجر يوازې پر هغه دی، چې زه يې پيدا کړی يم؛ نو ايا (ناخبر ياست او) او عقل نه کاروئ؟!))

۴-د حضرت پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د نبوت بل دليل، د مېرمنې يې ام المؤمنين حضرت خديجې (رض) ايمان راوړل وو؛ ځکه خپله ښځه، تر نورو ښه، د خپل مېړه پر کړنو قضاوت کولای شي؛ ځکه له ټولو ځانګړنو يې خبره وي.

۵-له حضرت پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم سره يې د لارويانو بې کچه مينه وه او د آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم روحانيت او معنويت يې د نبوت له تاييداتو څنې دی.

وايي «بهمن يار» د ابوعلي سينا له زدکړيالانو، يوه ورځ خپل استاد ته وړانديز وکړ، چې له دومره علم او شهرت سره سره، که د

---

[1] هود| ۵۱

پیغمبرۍ دعوا وکړې؛ نو ټول خلک به دې ومني. یوه ورځ ابوعلي سینا د سهار اذان پر مهال، نوموړي ته وویل، چې یو جام اوبه راوړه؛ خو زدکړیال، د ډېرو سړو او د خوب د ډېروالي له لامله، د ښووند امر پر ځای نه کړ، ابوعلي سینا هیله ترې وکړه، څو شیبې د سهار اذان ته غوږ کېده؛ نو همدا چې مؤذن د «اشهد ان محمدا رسول الله» غږ پورته کړ، ورمخ یې کړ او و یې ویل: وګوره د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د کلام نفوذ ته، چې لارویان یې له رحلته پېړۍ پېړۍ روسته، په ډېره سړه هوا کې، د منارو سر ته ورخېژي او پر رسالت یې شاهدي ورکوي او ما چې شخصاً له تا څنې یو غړپ اوبه وغوښتې؛ نو پلمې دې جوړې کړې او چمتو نه شوې، څو شیبې بې خوبه شي.

٦-فصاحت، بلاغت او وړاندوینه، د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم او د قرآن کریم معجزې، د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د نبوت لپاره ټینګ دلیل دی.

((قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَـذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيراً[1] = ووايه: ((که (ټول) انسانان او پېریان راټول شي، چې ددې قرآن په څېر (کوم کتاب) راوړي؛ نو په څېر يې راوړای نشي، که (په دې کار کې) څومره يو د بل لاسنيوی وکړي.)) ))

۷-بلخوا وينو، چې قرآن له يوې بشري ليکنې سره هم ورته نه دی؛ بلکې بشپړ، د الله له پنځون (طبيعت) سره ورته والی لري او قرآن، بشر د «قرآن کتاب» او د «طبيعت کتاب» د آيتونو مطالعې څېړنې او پوهيدنې ته رابولي او دواړو (قرآن او طبيعت) ته د الله آيات وايي.

((الَر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَقُرْآنٍ مُّبِينٍ[2] = الف، لام، را، دا د (الهي) کتاب آيتونه او څرګند قرآن دی.))

---

[1] اسراء\ ۸۸

[2] حجر\ ۱

((تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ[1]=دا د قرآن آيتونه او (د دين د حقايقو) يو ځرگند(وونكی) كتاب دی؛))
((المر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَالَّذِيَ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ[2]= الف، لام، ميم، را، دا د (اسماني) كتاب آيتونه دي او څه چې ستا د پالونكي له لوري تا ته نازل شوي، حق (رښتيني) دي؛ خو ډېر خلك ايمان نه راوړي.))

١. وينو چې قرآن د طبيعت په څېر خوالې او ظاهري او باطني ماناوې لري. څېړونكي او پوهان د دواړو د مطالعې په پايله كې پر توحيد، ايمان او نورو حقايقو برلاسېداي شي؛ لكه څنگه چې په «قرآن» كې د زېري وركوونكي او د عذاب آيتونه شته، د «طبيعت كتاب» كې هم، د لورنې او زېري آيتونه شته؛ لكه باد او

---

[1] نمل١١

[2] رعد١١

باران (وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا[1]= او (الله) هغه (ذات) دی، چې بادونه تر خپل رحمت [باران] مخکې زېرګري لېږي) او هم د عذاب آیتونه؛ لکه توپان او د بوټیو آفات (فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُّفَصَّلَاتٍ[2]= نو (موږ يو په بل پسې ناورينونه پرې ورکوز کړل:) توپان، ملخان، کنې، چونګښې او د وينو باران مو پرې ورحواله کړل، چې دا ټولې نښې مو بېلابېلې وښوولې (خو بيا هم راوينښ نشول او) لويي يې وکړه او دوی بدچاري وو.) شته او لکه څنګه چې په قرآن کې معجزې شته، د «طبيعت کتاب» کې هم «الهي معجزې» پېښېږي؛ لکه د حضرت موسی عليه السلام معجزې او دې ته ورته نورې.

---

[1] (اعراف| ۵۷)

[2] (اعراف| ۱۳۳)

۸-د «محمدي ښوونځي» په څېر یو «ښوونځي» هم خلک علم او پوهې ته نه دي هڅولي؛ حال دا، که دا لار یې له خپله ځانه جوړه کړې وای؛ نو باید خلک یې په ناپوهۍ او تورتم کې ساتلي او د خپلو موخو د سرته رسولو لپاره یې ګټنه ترې کولای حال دا، قرآن له «قَرَءَ= لوستل» څخه اخستل شوی؛ یعنې د لوستو کتاب.

۱. قرآن هغه کتاب دی، چې لومړی پېغام یې «اقراء» دی (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ[۱]= ولوله! د خپل پالونکي په نامه، چې (هرڅه یې) شته کړي)؛ قرآن هغه کتاب دی، چې خدای یې په ښوونه ویاړي او انسان ته د قلم له لارې ښوونه کوي (الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ[۲]= هغه [پالونکی] چې په قلم یې ښوونه وکړه) او هم الله په قرآن کې، پر قلم قسم یادوي (ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ[۳]= نون،

---

[۱] (علق\ ۱)

[۲] علق\ ۴

[۳] (قلم\ ۱)

سوگند پر قلم او څه چې لیکي!) په قرآن کې د پوهانو امتیاز په دې ډول بیان شوی. (هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُون[1] ایا پوهان او ناپوهان سره برابر دي؟! (هېڅکله نه) یوازې عقلمن دي، چې پند اخلي.))

۹-حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم او لار (اسلام) یې د نورو پیغمبرانو علیهم السلام) په څېر، محروم او مستضعف خلک، له استضعاف[2] او محرومیته خلاص او د ځلنده عالي «فرهنگ» او «تمدن» خاوندان کړي دي؛ نو مسلمانان چې لومړی بې د قرآن کریم له کتابه بل کتاب نه درلود، بیا یې د نوراني پلوشو له برکته په ټولو برخو کې د سترو علمي او فرهنگي زېرمو خاوندان شول، چې نور ملتونه هم د ده له رڼا، رڼا شوي؛ نو ویلای شو، چې فرهنگ او تمدن پر کتاب (قرآن) ولاړ دی.

---

[1] (زمر ۹)

[2] (هر هغه لامل، چې د انسان د کمزورۍ لامل گرځي)

۱۰-د تورات سفر تکوین[۱] او انجیل یوحنا[۲] په پخوانیو کتابونو کې د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د راتګ خبر ورکړی، چې دا پخپله د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د نبوت تصدیق دی.

یوحنا انجیل وایي: «او چې هغه؛ یعنې رښتینی روح (فارقلیط) راشي، تاسې به په رښتیا هدایت کړي.»

۱۱-د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د نبوت د تصدیق بل دلیل دا دی، چې د بعثت له پیله يې تر پايه، د نبوت او رسالت دعوا کوله.

((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا[۳]=(ورته) ووایه : ((خلکو ! زه تاسې ټولو ته د هغه الله استازی یم))

---

[۱] (۱۷: ۱۷- ۲۰، او ۴۹: ۱۰)

[۲] (۱۵: ۲٦، ۱٦: ۷)

[۳] اعراف| ۱۵۸

له دې دلایلو جوتېږي، چې قرآن کریم، د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم د نبوت او رسالت ویونکی او په رښتیني او غوڅه توګه، د الله تعالی له لوري رالیږل شوی کتاب دی.

**د نبوت دندې**

«د عقل په فیصله او د ادیانو د اړتیا له مخې، د بعثت موخه او د انبیاوو علیهم السلام کار، یوازې د چارو بیانول او د احکامو ویل نه دي؛ بلکې د قوانینو په پلي کولو د «ټولنیز عادلانه نظام» ټینګول، د انبیاوو مهمه دنده ده.»

**د قرآني آیتونو له مخې، د پېغمبرانو علیهم السلام مهمې دندې دا دي:**

۱-خلکو ته د الهي آیتونو په ویلو پوهه او معرفت ورکول. (یَتْلُو عَلَیْهِمْ آیَاتِهِ= چې د الله آیتونه ورولولي[1]))

---

[1]( جمعه| ۲)

۲-خلک له شیطاني ځانګړنو چاڼ او تزکیه کول او په الهي خویونو سمبالول (وَيُزَكِّيهِمْ[1]= او پاك يې كړي).
۳-خلکو ته د الهي کتاب او قوانینو ښودل (وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ= او کتاب (قرآن) وروښيي).
۴-خلک پر حکمت او د انسان او نړۍ پر خوالو پوهول (وَالْحِكْمَةَ= او حکمت وروښيي).
۵-د خلکو پوښتنو او استفتاوو (احکامو) ته ځواب ویل (يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّهُ يُفْتِيكُمْ[2]=))
۶-خلک د افکارو آزادي ته هڅول( فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ[3]= او هغو کسانو ته زيری دی، چې د طاغوت له نمانځنې يې ډډه او الله ته يې ورمخه کړې وي؛ نو زما

---

[1] او پاك يې كړي
[2] ( النساء\ ۱۷٦
[3] زمر \ ۱۷- ۱۸

بندگانو ته زیری ورکړه؛ هغو ته چې خبره اوري او (بیا) ښه اړخ یې مني؛ دوی هغه خلك دي، چې الله سمه لار ورښوولې او همدا دوی عقلمن دي.))

۱. ۷-خلک فکر کولو ته هڅول، چې د فرهنگ کچه یې لوړه شي. (وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ[1] =(موږ له تا مخکې پیغمبران) له څرگندو دلایلو او پخو لیکنو سره (لیږلي دي) او موږ تا ته خبروونکی (=قرآن) درلیږلی، څه چې خلکو ته نازل شوي، ورته څرگند کړې او ښايي اندنه وکړي.)

۸-خلک له ناپوهۍ او څانمنۍ (ظلمات)، د علم، پوهې او هدایت (نور) خوا ته رابلل او پر سیده لار یې رهبري کول، چې د عزت او سرلوړۍ لار ده.

[1] «نحل\ ۴۴»

(الَر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ[1]= الف، لام، را (دا) يو كتاب دى، چې موږ تا ته درلېږلى، چې خلك د دوى د پالونكي په توفيق او حكم (د شر، ظلم او ناپوهۍ) له تيارو (د ايمان، عدل او پوهې) د رڼا پر لور د ستايل شوي ناماتي (الله) لارې ته راوباسې. )

۹-د ټولنيز عدالت منځ ته راوستل.

١. (لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ[2]= رښتيا موږ خپل استازي له څرګندو دلايلو سره ولېږل او (اسماني) كتاب او تله (له باطله د حق پېژندنه او عادلانه قوانين) مو ورسره ولېږل، چې خلك په انصاف وچلېږي او اوسپنه مو وركوزه كړه، چې

---

[1] ابراهيم\ ١

[2] حديد\ ٢٥

پکې ډېر زور او خلکو ته (ډېرې) گټې دي، چې الله ته معلومه شي، څوك په پټه د ده (د دين) او استازيو يې ملتيا کوي؛ هو! الله بريمن ناماتی دی.)

۱۰-زېرگري او گواښگرندي

۲ (كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ[1]=(په پيل کې) ټول خلك يو امت و (په يوه لار روان او ترمنځ يې تضادونه نه وو، رو رو ټولنې او پاړکی رامنځته شوې او ترمنځ يې اړپيچونه او تضادونه راپيدا شول،په دې وخت کې) الله پيغمبران ورولېږل، چې (پر سم تگ) زېرگري او(پر کږو لارو د تگ له پايلو) گواښگرندي ول او ورسره يې د [الله] کتاب ولېږه، حق ته يې بلل، چې د خلکو ترمنځ د پېښ اړپېچ پرېکړه وکړي (مؤمنانو پکې اړپېچ ونکړ)

[1] بقره۲۱۳

اړپېچ يوازې هغوی راپېدا کړ،چې کتاب ورکړ شوی و او ښه پاخه دلایل هم ورغلي ول؛ خو د خپلمنځي کینې او سیالۍ له لامله يې اړپېچ ته ملا تړلې وه؛ نو الله په خپله اراده مؤمنانو ته د دوی د شخړو پر مهال د حق لوری وروښود (خو بې ايمانه خلك هماغسې په اړپېچ او بېلارۍ کې پاتې شول) او د الله چې چاته خوښه شي، سمه لار ورښيي.)

د «روزنې» او «اروڼپوهنې» له پلوه، بشارت (زېری) او انذار (وېره) ځانګړی اهمیت لري، په دې توګه، چې د هڅونې ترڅنګ ګواښ او د اجر او بدلې ترڅنګ سزا ټاکل شوې او دا د انبیاوو علیهم السلام له مهمو دندو څخه وو.

## د پېغمبرانو علیهم السلام ډولونه

په عمومي توګه پېغمبران دوه ډوله دي:

(الف) تشریعي یا (اولولعزم) پېغمبران

(ب) تبلیغي پېغمبران

**(الف) تشريعي پېغمبران:**

هغه پېغمبران چې یو لړ قوانین او لارښوونې، په خپلواک ډول وحې پرې شوې وي؛ مسولیت لري، چې دا قوانین او لارښوونې، خلکو (الناس) ته تبلیغ کړي او د همدې لارښوونو له مخې، خلک مشري کړي؛ یعنې د وحې شوي پېغام له مخې عقیدتي ټولنه (امت) جوړه کړي یا دوی د پېغام د پلي کولو مسولیت پر غاړه لري. دوی له ټولنې د شرک جرړې، ښي او کیڼ لوري ته کوږ والی، تبعیض او طبقات، فقر او بدمرغی، اخلاقي فسادونه او ټول هغه لاملونه چې له «صراط مستقیم» څخه د ټولنې د کوږوالي لامل ګرځېدلي وي، له منځه وړي؛ یعنې د ټولنې د سمې روزنې او سالمې پالنې (سیاست) مسولیت ورپر غاړه وي او یا په عمومي ډول وایو:

د اسلام د اعتقادي ښوونځي له مخې، د یوې اعتقادي ټولنې (امت) د جوړښت مشري (= امامت) ورپر غاړه ده؛ لکه حضرت نوح، حضرت ابراهیم، حضرت عیسی (علیهم السلام) او حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم.

**(ب) تبليغي پېغمبران**

دا ډول پېغمبران د خپلواک شريعت او قوانينو خاوندان نه دي؛ خو ماموريت لري، چې د هماغه زمانې شريعت او قانون تبليغ، پلي او دود کړي؛ لکه هود، لوط، اسحق، اسماعيل، يعقوب، يوسف، يوشع، شعيب، هارون، يحيی او ذکريا (عليهم السلام).

**د پېغمبرانو مبارزاتي دود**

د الله تعالی له لوري يو لک او څلرويشت زره پېغمبران خلکو ته رالېږل شوي. لومړی حضرت آدم (عليهم السلام) او روستی، چې نبوت پرې ختم شوی (خاتم النبيين)؛ حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم دی.

ټولو پېغمبرانو يو «پېغام» يو «دين» او يو «ښوونځی» تبليغ کړی؛ خو د زمانې د غوښتنو او د چاپېريال او وګړيو د ځانګړنو په پامنيوي، ددې پېغام او دين په پلي کولو کې، د پېغمبرانو ترمنځ د دود او کړنلار اختلاف/ اړپېچ و.

پېغمبران د خپلو ټولنو په ځانګړنو، شرايطو، اړتياوو او د فکري، اخلاقي، سياسي او ټولنيز ودې په کچه ښه پوهېدل؛ نو ځکه دوی

د همدې شرايطو په پامنيوي، د يوه ځانګړي رسالت او مبارزاتي کړدود خاوندان ول. يو د جنګ پيغمبر کېږي، بل د سولې، يو د محبت، بل د استثمار/ زبېښاک پر ضد او بل، خلک د اخلاقي فضايلو پلي کولو ته رابولي؛ نو پيغمبرانو، د قانون د پلي کولو په باب، د کړنلارو اړپېچ درلود؛ خو د قانون روحيه يې يوه وه.

د قرآن کريم له نظره، د موخې پرلوري، د «نړۍ»، «انسان» او «ټولنې» تکاملي بهير، يو مشري شوی بهير دی، چې «صراط المستقيم= سيده لار» ورته وايي؛ خو د انسان او ټولنو يون، پر دې مسير، متحول او متکامل دی؛ يعنې له يوه حالته، بل حالت ته مخ پر بشپړتيا او تکامل يون کوي؛ خو لار يوه او سيده (مستقيمه) ده.

بشر پر صراط مستقيم د تګ پر ځای، کله هم د منجمدو او ناوړو روږدنو په لومه کې ښکېل شوی؛ نو ځکه په دې حالت کې د مبعوث شوي پيغمبر رسالت دا وي چې دوی له دې لومې خلاص کړي او کله په داسې غرور، کبر او «ځان منۍ» ککړ شي، چې مبعوث شوي پيغمبر مسوليت درلود، ددې روږدونو د پرېښودلو

لپاره یې زهد او ریاضت ته راوبولي او له دې کړلارې یې سیده لار ته راکاږي او کله یې په ټولنه کې د ظلم، تېري او خپلسرۍ له وجهې، د مبارزې کړنلار، خلکو ته احساس ورکول او دوی پر خپلو حقوقو پوهول، رسالت گرځېدلی دی.
څرنگه چې ټول پیغمبران، له ولسه راپاڅېدلي، د خلکو (الناس) په احساس، دردونو، اړتیاوو او ناخوالو پوهېدل؛ نو هماغسې یې ورته د حل لار او د دردونو درمل ورکول. هغوی خپل ولس او ټولنه پېژندلې، چې مخاطب یې څوک دي. داسې نه ول، چې درد به یې زړه کاوه او درمل به یې د سترگو ورکول؛ نو ځکه د هر پیغمبر د مبارزې کړدود او حل لار، د هماغه وخت د حالاتو له مخې و؛ نو پیغمبرانو، بشري ټولنه، له انجماد، په ټپه درېدو، ارتجاع، ناپوهۍ، ظلم، بدمرغۍ، فساد او ظلمته (دا حالت د بشري پرگنیو د شیطاني لوري ښودونکی دی) خوځښت، انقلاب، لوړاوي، پوهې، عدل، نېکمرغۍ، اصلاح او رڼا (دا حالت د بشري ټولنو «فلاح» ته رسېدو او پر صراط مستقیم، د یون کولو ښوونکی دی) ته رابللې ده.

بلخوا څومره چې بشري ټولنو تکامل کړی، ورسره غبرګ، د پېغمبرانو ښوونې هم بشپړتیا ته رسېدلي؛ داسې نه وه، چې ټولنې په یوې فکري یا ټولنیزه کچه وې او پېغمبرانو به د دوی له کچې لوړې ښوونې ورزده کولې؛ سوکه سوکه، له لومړنیو ښوونو څنې د لوړو او عالي ښوونو پر لوري، د پېغمبرانو ښوونې، لوړې شوې دي. یا په بله وینا: بشر د پېغمبرانو په تعلیمي مدرسه کې، د یوه متعلم حیثیت لري، چې له لومړي ټولګي نه لوړو ټولګیو ته لوړ شوی. څه چې متعلم په لوړو ټولګیو کې زده کوي، دا به د هغه څه باب، لوړ او عالي تصور وي، چې په لومړنیو ټولګیو کې یې په باب یو څه ورته انځور کړي وو؛ نو د پېغمبرانو ښوونیز کړدود پر همدې بنسټ ولاړ و.

ټولو پېغمبرانو «اسلام» تبلیغ کړی؛ خو د تبلیغ بیان او افاده یې په بېلابېلو پړاوونو کې یو له بل سره توپیر درلود. د هر پړاو ټولنې، د خپلې وړتیا هومره، له اسلامه پوه شوي، چې په حقیقت کې پېغمبرانو د دوی د وړتیاوو د درک هومره، اسلام ورښودلی؛ نو له

اسلامه د بشر لومړنيو او اوسنيو ټولنو پوهېدنه (سره له دې چې دواړه پر اسلام گروهنې دي) توپير لري.

قرآن کريم، پېغمبران د يوه ځنځير په شان راپېژني؛ لومړني يې د روستنيو مبشرين او روستني يې د مخکېنيو مؤيد او تصديق کوونکی دي.

۱. (وَإِذْ أَخَذَ اللّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّيْنَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُواْ أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُواْ وَأَنَاْ مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ[۱] = او (درياد کړه) چې کله الله له پېغمبرانو (او له لارويانو يې) ټينگه ژمنه واخسته، چې کله مې کتاب او حکمت درکړ او بيا کوم استازی درغی، چې ستاسې د اسماني کتاب پر (حقانيت) گواهي ورکوونکی وي؛ نو هرومرو ايمان پرې راوړئ او ملاتړ يې وکړئ. (بيا الله) وويل: ((غاړه مو کېښووله او

[۱] آل عمران\ ۸۱

پردې (چار) مو زما ټینګه ژمنه واخسته؟)) ویې ویل: (((هو) غاړه مو کېښوولـه.)) (الله ورته) وویل: ((نو شاهد وسئ او زه هم درسره له شاهدانو څنې یم.))

قرآن کریم له آدم علیه السلام نه تر خاتم النبیین صلی الله علیه و آله وسلم پورې د الله تعالی «دین» یو پر له پسې بهیر معرفي کړی او نامه یې «اسلام» پرې ایښې ده؛ البته داسې نه ده، چې په ټولو پېرونو کې، د الله تعالی د «دین» نامه، په خلکو کې د اسلام په نامه مشهور و؛ بلکې مطلب دا دی چې د «دین» حقیقت، د یوې «منځپانګې» لرونکی دی، چې ددې «منځپانګې» غوره او بهترین څرګندوونکی، د «اسلام» کلمه ده. (إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسْلاَمُ[1] = په حقیقت کې الله ته منلی دین، اسلام (او حق ته غاړه ایښوول) دي).

[1] (آل عمران| ١٩)

مخکې مو وويل چې پېغمبرانو، الهي دين د بشري ټولنو د استعداد او فکری ودې په اندازې سوکه سوکه تبليغ او پلی کړی؛ نو چې کله بشر د فکري ودې او ټولنيز بلوغ دې مرحلې ته ورسېد، چې د الله په دين په مکمل صورت پوه شي؛ نو الهي دين ورته د بشپړ او هراړخيز ښوونځي په توګه د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم له خوا ابلاغ او وښودل شو او الهي رښتينی پېغام (وحې) مکمل شو، چې نوم يې قرآن دی.

(وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً لاَّ مُبَدِّلِ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ[1]= او د رښتينولۍ او عدالت له مخې، ستا د پالونکي وينا (بيخي په تول) پوره ده، هېڅوك يې خبرې بدلولای نشي او هغه پوه اورېدونکی دی.)

اوس د اسلام د ستر پېغمبر حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم د مبارزاتي دود يوه برخه تر غور لاندې نيسو.

---

[1] انعام/ ۱۱۵

**د حضرت محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) سنت**

«د اسلام د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم سنت دا دي: کومه خبره يې چې کړې يا يې کوم حکم کړی يا د هغه عمل پر وړاندې چې و به شي يا کېږي چوپتيا غوره کړې او مخالفت يې نه دی ورسره کړی، يا يې پخپل ژوند کې کوم کړنه کړې؛ خو بې له دې چې نورو ته يې ووايي، چې و يې کړئ؛ نو ځکه د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم سنت؛ د آنحضرت «ويناوې او کړنې» دي.

**ويلای شو: اسلامي احکام دوه ډوله دي:**

۱-هغه احکام چې له اسلامه مخکې ول؛ خو حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم دا تاييد کړي (امضائي احکام).

۲-هغه احکام چې مخکې نه ول؛ خو اسلام وټاکل (تاسيسي احکام).

د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم «کړدود» هم په سنتو کې شمېرل کېږي؛ نو موږ بايد پر دې ځان وپوهوو، چې زموږ

پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د خپل رسالت د پلي کولو لپاره کومه کړنلار، تاکتیک او وتلار درلوده.

**د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ځانګړې کړنلار:**

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم چې د یوې ټولنېزې چارې د سمولو او بدلون لپاره کومه کړنلار غوره کړې، موږ ته د «اندیزې مبارزې» او «ټولنیزو چارو» له پلوه «بېلګه» ده، که څه ددې چارو (د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د زمانې د ځانګړیو چارو او زموږ د زمانې د ځانګړیو چارو) ترمنځ ورته والی نه وي؛ نو په دې اړه د یوې بېلګې یادونه کوو:

تر اسلام مخکې غسل کولو، ګروهیز خرافي اړخ درلود، عرب ګروهن ول، چې په جُنُب انسان کې پېری یا شیطان ننوتی او په دې سره د انسان بدن او نفس نجسېږي او چې غسل و نه کړي؛ نو شیطان یې له بدنه نه وځي؛ نو جاهلي عربو په دې نیت غسل کاوه، چې شیطان یې له بدنه لرې شي.

**د ټولنیزو مبارزو د سمونې درې نغوت دودونه**

د ټولنیزو ښوونځیو له نظره، په ټولنیزو مبارزو کې درې سمونیز دودنه شته:

۱-سنتي، ځانساتی او محافظه کار دود (ترادیسیونالیزم-کنسرواتیزم):

ټولنیز ځانساتی مشر، ټولنیزې چارې (که څه خرافي وي) هماغسې ساتي؛ ځکه دا یې د ټولنې سنت او دود دی.

محافظه کار (ځان ساتی) ددې سننو او دودونو ساتونکی دی؛ ځکه دا د ملت وجودي آر ګڼي.

۲-انقلابي کړنلار (رولو سیونیزم):

انقلابي مشر په کلکه او ناڅاپي ډول، خرافي، زاړه او ارتجاعي دودونه او قوانین له منځه وړي.

۳-سمونیزه اصلاحي (رفورمیزم) او تحولي (اولوسیونیزم) کړنلار:

سمونپال مشر غواړي، یو ټولنیز دود سوکه سوکه بدل کړي داسې چې سمون لپاره یې زمینه او ټولنیز لاملونه چمتو کړي او سوکه یې اصلاح کړي.

دا، د دوو پورته دودونو په تړاو منځنۍ دود دی؛ خو د اسلام د پېغمبر دود ددې درې واړو غوندې نه؛ بلکې کړدود یې د څلورم ډول تر نامه لاندې راځي او هغه داچې:

هغه سنت او دود چې په ټولنې کې یې جرړې ځغلولې، خلک پرې روږدي او په طبیعي ډول عمل پرې کوي، هماغسې ساتي؛ خو بنه یې سموي؛ خو منځپانګه، روح، لوری او عملي فلسفه یې په انقلابي ډول اړوي.

د ځانساتو استدلال دا دی: دغو دودونو د ټولنې په غړیو کې جرړې ځغلولي او په پایله کې یې ټولنیزې اړیکې منځ ته راغلي؛ نو که دغه دودونه بدل کړو؛ نو ټولنه له خطرناک حالت سره مخېږي؛ نوځکه تر هرې انقلابي پېښې روسته ګډوډي، اړو دوړ او یا دکتاتوري منځ ته راځي، چې دا دواړه یو د بل لازم او ملزوم دي؛ ځکه په بیړه، په یوه انقلابي توند یون کې د ټولنیز او فرهنګي دودونو بدلول، ټولنه له ناڅاپي تشې سره مخوي، چې اغېزې یې د انقلاب تر سړبنت روسته څرګندېږي.

**د انقلابیونو استدلال دا دی:**

که زاړه دودونه څنگه چې دي، هماغسې وساتو؛ نو ټولنه به مو د زړښت، ټپ دریدو، رکود او انجماد په حالت کې ساتلې وي؛ نو ځکه رهبر او مشر هغه دی چې له زمانو راهیسې په جسمي او روحي پلوه زولانه شوې ټولنه، د ورستو قوانینو له ځنځیرونو خلاصه کړي او پر ځای یې نوي قوانین منځ ته راولي، که نه ټولنه به یې د زړښت او انحطاط په حالت کې پرېښې وي:

د سمونپال او مصلح (رفورماتور) استدلال:

مصلح غواړي د دودیزو او انقلابي دواړو کړنلارو له نیمگړتیاوو ځان بچ وساتي، وایي: بدلون سوکه سوکه دی، باید ناوړه چار ته په وړ بڼې ورکولو سره بسیا وکړو، نه دا چې له بېخه یې ونړوو او په بیړه خپله مطلوب موخه عملي کړو.

ددې کړنلار لارویان زیار باسي، ټولنه له ځوړتیا، شاته پاتېدو، په ټپه درېدو، زړښت او وچو کلکو دودونو خلاصه کړي؛ خو ددې لپاره چې ټولنه له اړو دوړ سره مخ نشي او ناڅاپه له پښو و نه لوېږي؛ نو زمینه ورته چمتو کوي. سوکه سوکه، په نرم چلن او د

ټولنې د انديزې او ټولنيزې زمينې په چمتو کولو، ټولنه اصلاح کوي او خپل مطلوب آرمان ته يې ور رسوي.

انقلابي کړنې نه کوي؛ بلکې د اوږدې مودې لپاره کړلارې جوړوي، چې پړاو په پړاو خپلې موخې ته ورسي؛ خو د «سوکه سوکه سمونې» دا کړنلار غالباً دا نيمګړتيا مومي، چې په اوږد مهال کې، منفي لاملونه، ارتجاعي ځواکونه او د کورنيو او بهرنيو دښمنانو لاسوهنې يې له خپلې لارې اړوي يا يې پر ټپه دروي، ان تر دې چې له منځه يې وړي. د بېلګې په توګه: که وغواړو سوکه سوکه د ځوانانو اخلاق سم او د خلکو اندونه روښانه کړو؛ نو مخکې له دې چې خپلې موخې ته ورسو، له منځه به تللي يو او يا مفسدين او عوام غولوونکي لاملونه پر ټولنې برلاسېږي او له کاره مو غورځوي.

هغه مشران چې په اوږده زمانه کې د ټولنې په سوکه سوکه سمونې ګروهن وي، ددې کړنې شمېرنې يې منطقي سنجولې؛ خو د سمونې ضد او خنثی کوونکو لاملونو (چې تل د نهضت د ځپلو لپاره مناسبه موقع ګوري) ځواک يې نه دی حساب کړی؛ نو ځکه

کومې سمونې چې د مصلحانو د سوکه سوکه یون په پایله کې منځ ته راغلي، دوی یې له یوه سره جارو کوي؛
خو حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د خپل رسالت او نهضت د مشرۍ لپاره، د ټولنیز مبارزې، ځانګړې کړنلار رامنځ ته کړې، بې له دې چې د پورته درېیو کړنلارو، منفي او کمزوري لاملونه او ټکي ولري، خپلې ټولنیزې موخې ته رسېدای شي او پر منفي او خنډ اچوونکیو لاملونو باندې په بیړه برلاسېدای شي او هغه دا چې:
«د دودونو بڼه ساتي؛ خو په انقلابي توګه یې له دننه منځپانګه اړوي».
غسل د ځانساتې کړنلار له مخې، باید هماغسې وساتل شي؛ خو د انقلابي کړنلار له مخې، باید له منځه ولاړ شي او په ټینګه یې خلک له کولو منع شي.
د اصلاحي کړنلار له مخې، سوکه سوکه یې له منځه وړلو لپاره اندیزه او ټولنیزه زمینه چمتو شي؛ خو حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د غسل «د بڼې په سمونې او له دننه یې د

منځپانګې په انقلابي اړونې»، په ساده او اسانه ډول یې ترې د پاکوالي او روغتیا بنسټیز دود جوړ کړ.

**حج** تر اسلام مخکې، د حضرت ابراهیم علیه السلام له زمانې راهیسې، د قریش واکمنانو د ګټو خوندي کولو، د مکې د سوداګرو د وټیزو او د قبایلي عربو د اړتیاوو د لرې کولو لپاره ټولنیزه بېخ بنا او دود ګرځېدلی و؛

خو حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم نوموړی سنت وساته او هغه وړتیا چې «حج» په ټولنه کې درلود (که څه خلکو کعبه بوتخانه ګڼله؛ خو ګروهه یې درلوده، چې کعبه «ابراهیم خلیل الله» جوړه کړې ده) د حج په اندیزې منځپانګې کې یې انقلابي بدلون راوست او د خپل ښوونځي لپاره په چوپړ کې یې کړ او د «توحید» او «بشري یووالي» پر ستر او بنسټیزو دودونو یې واړوه.

حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په انقلابي ټوپ، د بوتنمانځنې ټبریز دود په داسې دود بدل کړ، چې چورلټ یې له لومړنۍ منځپانګې سره توپیر درلود او دا انقلابي یون په داسې

ډول پلی شو، چې خلکو له خپلو مقدساتو څخه بېلښت حس نه کړ؛ بلکې د خپلو دودونو راژوندي کول او پلي کول يې ووننګېره. حال دا، له «بوت نمانځنې» تر «توحيد» يې څو پېړۍ واټن و؛ خو حضرت پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم په انقلابي او يودمي توګه، دا واټن داسې ووهه، چې تر هر انديز او فرهنګي انقلابه چټک او ګړندی و، بې له دې چې ټولنه پوه شي، چې له تېرو سره شلېدلې او «بل مخ اوښتې» ده.

د ټولنيز کار دا دود کولای شو د «دودپالنې په دننه کې انقلاب؛ خو د اصلاح شوې بڼې په خوندي ساتنې» ياد کړو.[1]

---

[1] يادونه: «ما دلته حج او غسل له کلامي او اعتقادي پلوه نه دی څېړلی؛ ځکه دا د پخوانيو انبياوو له سنتو څخه دی، يوازې مې د ټولنيز مانا له پلوه او دا چې د هغې زمانې په عربو کې نوموړو دودونو څه مانا او مفهوم دلود، وڅېړه.»

نو ځانساتي د ټولنې د دودونو د ساتلو لپاره، د ځواک تر روستۍ شېبې زيار باسي، که څه د ځان او نورو د بلهارولو په بيه وي.
انقلابيون غواړي، ټولې چارې په يوه وار واړوي او يودم له يوه پړاوه بل ته ټوپ ووهي، که څه، ټولنه ټوپ وهلو ته چمتو نه وي؛ خو بيا هم «انقلابي» د ټولنې پر وړاندې مقاومت کوي، چې په پايله کې شونې ده، چې انقلابي، نه يوازې د ولس ضد ځواکونو پر وړاندې؛ بلکې د خلکو پر ضد هم په قهر، دکتاتورۍ، کينې او عام وژنو لاس پورې کړي.
مصلح او سمونپال هم مفسداتو ته وخت او فرصت ورکوي؛ خو موږ ته حضرت پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د خپل دود په ښودلو، بېله لار پرانستې، که پرې پوه شو او کار ترې واخلو؛ نو مطلوبې موخې ته به ورسو.
د ټولنې له نادودو او فرهنگي مړو توکيو او زړو دودونو سره د مخامخېدو په حالت کې، ددې کړنلار په لاروۍ، انقلابي موخو ته رسېدای شو، بې له دې چې د انقلابي کړنلار ټول جبري عواقب راباندې وتپل شي او همدا راز، بې له دې چې د ټولنې له

ګروهیزو اصولو سره لاس په ګرېوان شو او له ټولنې جلا او خلک مو ورټې.»

**د مشرۍ رسالت د علماوو پر غاړه دی**

بشریت د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم د بعثت وختونو ته نژدې، ددې وړتیاې موندلې وه، چې د الله پر دین په بشپړه بڼه پوه شي؛ نو دین ورته په هر اړخیز او بشپړه توګه راولېږل شو.

حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم، موږ پر قرآن باندې د خپلو «ویناوو»، «کړنو» او د «کړنو په کړنلار» وپوهولو او په «یثرب» نومي ځای کې یې، په لسو کلونو کې، د یوې ګروهیزې ټولنې «= امت» چوکاټ جوړ کړ؛ نو د پیغمبر صلی الله علیه و

آله وسلم تر وفات روسته، اسلامي علماء[1] مسوول دي، په انقلابي توګه، د بنسټ ایښودل شوې ټولنې، پاتې چارې تر سره کړي او تر هغې چې د «اسلام ګروهیز ښوونځی» د ټولنې پر کړنو، اړیکو، کچو، اقتصاد، سیاست، اخلاقو او ټولو جزیي او ټولنیزو چارو کې جرړې نه وي ځغلولې او ټولنه د ټاکنې او بشپړ شعور پړاو ته نه وي رسېدلې؛ نو باید د اسلام د «ګروهیز ښوونځي» له حکم: من مات بغیر امام مات میتة جاهلیة[2]= څوک چې بې له «امام» نه ومري؛ نو مړینه به یې د جاهلیت مړینه وي)؛ سره سم، ټولنه رهبري شي.

علماء د زماني او مکاني شرایطو، د کهولونو د اړتیاوو او د وخت د غوښتنو او د امت د سمې او روغې مشرۍ لپاره، اسلام خلکو ته بیانوي، خلک پر اسلام پوهوي؛ یعنې «اسلامي علماء» پر «خاتم

---

[1] (قرآن راته وایي: که نه پوهېږئ؛ نو پوهان وپوښتئ او هم حدیث شریف دی: علما د انبیاوو وارثین دي)

[2] (مسند امام ابن حنبل ۹۶ مخ او د کنزالعمال ۱۰۳ جلد ۴۶۳ او ۴۶۴ خبر

النبیین» باندې د وحې شوي پېغام مبلغین، ښودندان او د خلکو د لارښودنې چارواکي دي؛ یعنې سیاستپوهان دي. پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي:

«زما د امت علماء، د بني اسرائیلو د انبیاو په څېر دي».

په تېرو زمانو کې «تبلیغي پېغمبرانو» د هماغې زمانې د شریعت او قانون د ابلاغ، پلي کولو او دودولو لپاره، مسولیت منلی و؛ خو اسلامي علماوو، د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات روسته، دا دروند مسوولیت پر غاړه اخستی؛ نو ځکه د هرې زمانې د شرایطو په پامنیوي، د کهولونو د اړتیاوو پوره کولو لپاره، په دین کې هڅه او زیار کاږل او خلکو ته اسلام ښودل، د **اجتهاد** په نامه یادېږي او علماء په رښتوني توگه مجتهدین دي.

حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم دوه رسالتونه درلودل:

الف- د نبوت رسالت.

ب- د مشرۍ رسالت.

د تبلیغ یا نبوت رسالت یې په خپل ژوند کې تر سره کړ (خاتم النبیین)؛ خو د اسلام د ښوونځي له مخې، د امت د «ارماني ټولنې»

د جوړولو رسالت (رهبري) يې د اسلامي علماوو پر اوږو ايښې؛ يعنې د پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د مشرۍ رسالت دوام لري؛ نو پر اسلامی علماوو، چې د دين د پلي کولو او د خلکو د مشرۍ مسووليت ورپه غاړه شوی، هغه کسان دي، چې په ايماني مخينه، جهاد، تقوا، فکر، علم، سياست، ځيرکي او هم د عبادت په ډگر کې تر نورو په ښه ډول د ښوونځي او دين ممثلين او ښکارندويان دي.

**لکه څنگه چې عبدالرحمان بابا وايي:**

عالمان دي روښنايي د دې نړۍ
عالمان دي د تمام جهان پيشوا
که څوک لار غواړي و خدای و هم رسول ته
عالمان دي د دې لارې رهنما
کيمياگر که د کيميا په طلب گرځي
همدمي د عالمانو ده کيميا
په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که څوک کاڼي وي يا لوټه د صحرا

جاهلان دي په مثال د مرده ګانو
عالمان دي په مثال د مسيحا
چې مړه يې له نفسه ژوندی کيږي
عالمان دي واړه هسې اولياء
هر سړی چې رتبه نه لري د علم
سړی نه دی خالي نقش دی ګويا
زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم يم
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا

***

يا داسې وايو، چې د «حزب الله» د سازماني تشکيلاتو د لومړۍ ليکې کسان (اهل کساء) د «اولوالامر» تر وفات روسته، د ټولنې د لارښوونې مستحقين دي.
د الله د ګوند د لومړۍ حلقې کسان (اهل البيت) هغه څوک دي چې دوی جسماً او روحاً، يو په بل کې اغبږل شوي، دوی په ښوونځي کې هضم شوي او د مکتب د ګروهيزو اصولو له مخې، د «شخصيت» خاوندان شوي، دوی د مکتب د ټولو اجزاو په

اړیکه او د پلي کولو په کړنلار یې تر نورو ښه پوهیږي؛ نو همدوی، د ټولنې د سمې او روغې مشرۍ وړ دي؛ نو ځکه که په تاریخ کې بې له دوی، نور څوک د ټولنې مشران شوي وي، په حقیقت کې دوی، د اسلام د ګروهیز ښوونځي له مخې، پر صراط مستقیم د «توحیدي ټولنې = امت» د جوړښت لپاره مستحق او وړ کسان نه وو.

**لکه څنګه چې امیر حمزه خان شینواری وایي:**

چې هر څوک د پنجتن نه لري یاري
مرګ د روح یې دی له دغې بیماري
د کور خلق برابر د پردیو نه وي
زه اول یم پنجتني بیا چار یاري
چې احمد علي زهرا حسین واړه
اولی نه ګڼي عبث کوي خواري
پس د دوی نه مې پسند واړه اصحاب دي
چې لري په تابعینو سرداري
زه حمزه د بوتراب د در تراب یم

چې يې فيض تر قيامته دی جاري

***

«د چارو ددې ډول تحليل او څېړني له مخې، موږ ته د بشريت له پيله، ان تر ننه د تاريخ په باب يو نظر پيدا شو او هغه دا چې: ټول هغه رهبران «په هر نوم او عنوان» چې د پېغمبرانو تر وفات روسته، په بې استحقاقۍ پر خلکو تپل شوي وي، هلته بشري ټولنې له خپل بهيره کږې شوي، چې په ټولنپوهنه کې نوموړې پېښې ته د «مجازي مشرۍ» يا «دروغجنې مشرۍ» اصل وايي.
موږ چې د تاريخ په منځني پړاو کې يوو، د بشري ټولنو د انحراف درووند بار مو پر اوږو شوی، بايد پوه شو، چې زموږ ټولنو، د تاريخ له ټاکل شوي بهيره، څه وخت انحراف کړی، چې له هماغه وخته يې له منځه وړو لپاره په کار پيل وکړو.
موږ بايد ځان پوه کړو، چې څوک يو؟ ايا د بشري ټولنو په کوږ يا سيده حالت کې يو؟ کوږوالی يا سيده والی مو له کومه ځايه پيل شوی؟ اوس چېرې روان يو؟ او روستۍ موخه مو څه ده؟

موږ د یوه «مبارز مسلمان» په توګه؛ څکه ددې پوښتنو پر ځواب ځان پوهوو، چې «ژوند» راته مانا پیدا کړي، چې څوک یو ا د چا پر ضد، د څه لپاره جنګیږو؟
زموږ ځوان کهول، چې «تاریخ» د اسلام د «ګروهیز ښوونځي» له مخې څیړي، خپله مبارزاتي کړنلار، «سازماني تشکیلات» او «موخه» داسې جوړوي، چې د ټولنې کاږه لوري، بېرته سیده لارې ته ورسیخ کړي.
بشري ټولنې چې له سیده لارې کږې شوي او د تاریخ د «دروغجنې» مشرۍ په پایله کې چې پر موږ څومره ناوړه دودونه، اخلاق، اقتصاد، سیاست، فساد او په شرک ککړ ذهنیت راتپل شوي؛ نو تر هغې چې ټولنه مو په «الهي ارزښتونو» او «توحیدي معیارونو» نه وي سمبال کړي، لاس به له سمونپالنې مبارزې وانخلو.
همدا په «انقلاب» کې د «انقلاب» او په ټولنه کې د «ښوونځیزې مبارزې» مفهوم راښیي او دا ډول مبارزه، د پیغمبرانو علیهم السلام او د هغوی د وصیانو د لارې غځېدا ده.

**د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) اخلاقو ته لنډه کتنه**

د بشریت د لار ښوونې لپاره، د الله تعالی له لوري یو لک و څلرویشت زره استازي رالیږل شوي او پر حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم دا لړۍ پای ته رسېدلې؛ نو ځکه «خاتم النبیین» دی.

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پر ۵۷۰ میلادي کال زیږېدلی او په (۴۰) کلنۍ کې پر نبوت مبعوث شوی دی.

۱۳ کاله یې په مکه کې خلک اسلام ته راوبلل او په دې ترخ کې، ډېرې تنګسې پرې تېرې شوې. یوه میږنۍ ډله یې وروزله، بیا یې د مبارزاتي شرایطو د سختوالي له لامله، له مکې نه «یثرب» ته هجرت وکړ، چې تر هجرت روسته، یثرب پر «مدینة النبي» یاد شو؛ آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم دا ځای د اسلام خورولو هډه وټاکله او لس کاله یې ازادانه دعوت او تبلیغ وکړ، د عربو له سرغړاندو سره یې غزاګانې وکړې او ماتې یې ورکړې. تر لسو کلونو روسته، ټول جزیرة العرب، اسلام ته غاړه کېښوده او مسلمان شو.

قرآن مجید د ۲۳ کلونو په اوږدو کې، پر آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم نازل شوی دی. مسلمانانو له قرآن او پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم دواړو سره ډېره مینه درلوده.
حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د هجرت پر یوولسم کال، د ٦۳ کلونو په عمر کې رحلت وکړ او د «اسلامي اندنې» پر بنسټ یې د داسې نوې ټولنې بنسټ کېښود، چې «نړیوال مسوولیت» یې احساساوه. د نوې جوړې شوې ټولنې روحیه پر دوو ستنو ولاړه وه.
الف- قرآن کریم، چې تل تلاوت او لوستل کېده او خلکو ته یې الهام ورباښه.
ب- د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ستر شخصیت، چې د ټولو پام یې ځانته ور اړولی و او یارانو یې بې کچه مینه ورسره درلوده.
موږ دلته د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د شخصیت په باب لنډ شانته بحث کوو.

لا د مور په زیلانځ کې و، چې پلار یې شام ته په سوداګریز سفر کې په مدینه کې وفات شو او پالنه یې نیکه (عبدالمطلب) ته پر غاړه شوه. له وړکتوبه یې په څېره، کړنو او خبرو کې، د ستریا او عظمت نښې وې. اته کلن و، چې نیکه یې هم ومړ او د ده له وصیت سره سم یې مشر تره (ابوطالب) پالنه پر غاړه واخسته. ابوطالب هم د محمد صلی الله علیه و آله وسلم هېښنده کړنو ته هک پک و؛ څکه خوی او روږد یې د نورو کوشنیانو په څېر نه و.

کله هم لیدل شوي نه دي، چې د نورو همزولو غوندې یې له خوراک و څښاک سره مینه درلوده، په ډېرو کمو خوړو یې بسیا کوله او «ډېرخوره» نه و، د خپلو همزولو او مهال د روږد پرخلاف یې خپل وېښتان سمول او خپل سر، مخ او بدن یې سوتره او پاک ساته.

حضرت ابوطالب وایي: «ما کله هم دورغ ترې نه دي اورېدلي، ناکاره کار او بې ځایه خندا مې ترې نه ده لیدلې، له وړو او همزولو سره د لوبو مینه پکې نه وه، یوازېتوب، ګوښه او ځانته

والی یې ښه ایسېده او په ټولو حالاتو کې متواضع، مخ ماتی او بې کبره و.»
د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم او د اخلاقو په هکله خبرې څه اسان کار نه دی؛ ځکه داسې څوک نشته، چې د ده مبارک پر اسماني شخصیت او معنوي ستریا راونغاړي او لکه څنګه چې ښایي هماغسې یې وپېژني او نور هم پرې وپوهوي.
لاندې څو ټکي، چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د اخلاقو تر نامه لاندې لولئ، د «مشت نمونه خروار» په توګه وړاندې کېږي.

## ۱-له لټۍ او بېکارۍ کرکجن و

حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم له لټۍ او بېکارۍ کرکه درلوده او ویل یې: «خدایه له لټۍ، سستۍ، ناغېړۍ، بېوسۍ او خوارۍ پناه دروړم.»
مسلمانان یې کار ته هڅول او ویل یې: «عبادت اویا (۷۰) برخې لري، چې غوره یې حلال کسب دی.»

**۲-امانت ساتنه**

پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د خلکو امانت ساتی و، په رښتیا، په خلکو کې د «محمد امین» په نامه یادېده. خلکو ورسره خپل امانتونه ایښودل او د غوښتنې پرمهال یې ورسپارل.

له «بعثت» نه روسته، قریشو له خپلې دښمنۍ سره سره، بیا هم خپل امانتونه ورسره ایښودل له همدې لامله، مدینې ته یې له هجرت روسته، حضرت علي کرم الله وجهه په مکه کې پرېښود، چې د خلکو امانتونه یې خپلو خاوندانو ته وسپاري.

**۳-له ظلم سره مبارزه**

د جاهلیت په پېر کې، یوه ډله خلک، له ظلم سره د مبارزې په مقابل کې، د «عبدالله بن جدعان» په کور کې راټول شوي ول او پخپلو کې یې تړون وکړ، چې له مظلومینو به دفاع کوو، دا تړون د «حلف الفضول» په نامه یادېږي او آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم به د رسالت په زمانه کې ددې تړون یادونه کوله او ویل

يې: «چمتو نه یم نوموړی ترون مات شي، اوس هم چمتو یم، په دغسې یوه ترون کې برخه واخلم.»

**۴-کورنی سمبالښت**

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پر خپلې کورنۍ لوراند و او له خپلو بيبيانو سره يې کله هم توندي نه کوله، چې د هغه وخت د مکيانو خوی او سلوک و. د ځينو بيبيانو توندې خبرې يې زغملې، داسې چې نور به له دې زغم او حوصلې څخه ځورېدل. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم له ښځو سره د ښه سلوک او چلن په باب سپارښت او ټينگار کاوه او ويل يې: «ټول خلک ښه او بد خويونه لري، بايد نارينه يوازې د خپلې ښځې بد خوی په پام کې و نه نيسي، چې نوموړې پرېږدي؛ ځکه که له يوه خويه يې خفه شي؛ نو بل خوی يې د خوښۍ لامل دی او د انسان بايد دواړه په سترگو کې وي.»

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم له خپلو زامنو او لمسیو سره مینه کوله، په غېږ کې یې کېنول، پر اوږو یې سورول او ښکلول یې هم؛ خو هغه یو چا هم داسې نه کول.
یوه ورځ یې د یوه شتمن په مخ کې خپل لمسی امام حسن (رض) ښکل کړ، سړي وویل: زه دوه زامن لرم او لا تر اوسه مې یو هم نه دی ښکل کړی، آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «څوک چې پر چا و نه لورېږي؛ نو الله تعالی به هم پرې و نه لورېږي.»
د مسلمانانو له زامنو سره یې مینه کوله، پر زنګانه یې کېنول، د مینې لاس یې پرې راکاږه، چې کله به میندو د دعا لپاره خپل کوشنیا ورکول؛ نو کله داسې هم کېدل چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پر جامو یې بولې کولې؛ نو میندې به خېجله شوې او کوشنی یې راته او له دې کاره یې منع کول؛ خو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم، د کوشنیانو میندې له دې کاره منع کولې.

## ۵-له مريانو سره چلن

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پر مريانو مهربان و او خلکو ته يې ويل: «دوی ستاسې رونه دي، کوم خواړه چې خورئ، دوی ته يې هم ورکوئ، کوم ډول جامې چې اغوندئ دوی ته يې هم واغوندئ، دروند کار مه پرې کوئ او په کارونو کې برخه ورسره واخلئ، دوی د مريي يا مينځې په نامه مه يادوئ؛ ځکه موږ ټول د الله تعالی مملوک يو او حقيقي مالک يوازې هماغه دی، هغوی د فتی (ځوان) يا فتاة (ځوانې) په نامه ياد کړئ.»

په اسلامي شريعت کې د مريانو د بشپړې آزادۍ لپاره ټول شوني شرايط چمتو شول، آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د مريانو پلور يوه بده ورهنه/ کسب و کار ګڼه او ويل يې: «د الله تعالی په نزد ناوړه خلک، انسان پلوري دي.»

## ٦-پاکوالی او عطر لګول

حضرت پيغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له «پاکوالي» او «خوشبوی» سره ډېره مينه درلوده، دا يې پخپله هم کول او هم يې

نورو ته حکم ورکاوه، پر خپلو یارانو او لارویانو یې ټینګار کاوه، چې ځان او کور پاک او خوشبویه وساتي او په تېره، د جمعې ورځې پر غسل او د عطرو پر کارونې یې ټینګار کاوه، چې د جمعې په لمانځه کې ګډونوال بدبوی نه وي.

## ۷-له خلکو سره چال چلن

آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم له خلکو سره په ورین تندي چلېده. په سلام اچولو کې ان پر کوشنیانو او مریانو هم ورمخکې کېده، د هیچا په مخ کې یې نه پښې غځولې او نه یې تکیه کوله، ډېر په دوارو زنګنونو کېناسته او غونډه یې ګرده وه، چې ټیټ او لوړ پکې ځرګند نه وي او ټول په یوه ډول مساوي ناست وي.

د خپلو یارانو له احواله یې ځان خبراوه او چې کوم به یې درې ورځې و نه لید؛ نو که رنځور و، پوښتنې ته یې ورتله او که ستونزه یې درلوده؛ نو په هواري کې یې مرسته ورسره کوله. په غونډه کې یې ځانګړي وګړي ته خطاب نه کاوه او نه یې کوم ځانګړي کس ته کتل؛ بلکې ټوله غونډه یې تر سترګو لاندې وه. ښه یې نه

ایسېدل چې خپله کېني او نور یې چوپړ وکړي، له خپل ځایه راولاړېده، په کارونو کې یې ګډون کاوه او ویل یې: «هغه بنده د الله تعالی ښه نه ایسي، چې تر نورو ځان ته پر امتیاز قایل وي.»

## ۸- نرمي او ستغي

په وګړیزو چارو کې نرم دریځه و، چې د پرمختګ له لاملونو څخه یو یې هم سترې تاریخي بېلګې دي؛ خو په عمومي او اصولي چارو کې چې د قانون پولې پرې ماتېدې، سخت دریځی و او د پېښې د ستونزې لرې کولو لپاره یې پر اصولو عمل کاوه.
د مکې له سوبې روسته یې ټولو قریشو (دوی څه له پاسه شل کاله له آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم سره مخامخ دښمني درلوده) ته عمومي بښنه اعلان کړه، چې یوازې شپږ تنه بدژبي او خطرناک یې و نه بښل او د خپل شهید تره سیدالشهداء؛ حضرت حمزه (رض) د قاتل توبه یې ومنله؛ خو په همدې سوبې کې، د بني مخزوم د ټبر یوې ښځې غلا وکړه او دا ښځه د قریشو له اشرافو څخه وه او پر نوموړې یې د غلا د حد پلی کول شرم ګاڼه؛

نو هر خوا ته يې لاسونه اچول، چې آنحضرت د حد له پلي کېدو تېر شي او په دې ترخ کې، ځينې محترم اصحاب کرام هم د شفاعت لپاره، حضرت پيغبمر صلی الله عليه و آله وسلم ته ورغلل؛ خو حضرت پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم غوسه شو او و يې ويل: «دا د شفاعت ځای نه دی؟ ايا د وګړيو لپاره، «حدود الله» او الهي قوانين لتاړلی شو»؟ د هماغې ورځ په مازيګر يې يوې ډلې ته وينا وکړه او و يې ويل: «مخکېني قومونه له دې لامله ورک او مخ پر ځوړ شول، چې د الهي قوانينو په پلي کولو کې يې تبعيض کاوه، که زورواک او پياوړي به جرم وکړ؛ نو باښه يې او که کمزوري او لاس لاندې جرم کاوه؛ نو سزا يې ورکوله، قسم پر الله تعالی، چې روح مې يې په لاس کې دی، د عدل په پلي کولو کې به له چا سره ګوزاره و نه کړم، ان که له نږدې دوستانو مې هم وي.»

**۹-عبادت**

حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم کله د شپې نیمه برخه، کله دوې برخې او کله دریيمه برخه پر عبادت تېروله. سره له دې چې په مدینې کې ټوله ورځ په مبارزاتي او تشکیلاتي فعالیتونو بوخت و؛ خو د عبادت پرمهال یې څه کمی نه راوست، له حق تعالی سره یې د راز و نیاز او عبادت پرمهال په پوره ډاډ او ارامۍ عبادت کاوه، عبادت یې د جنت د تمې یا د دوزخ له وېرې نه؛ بلکې عاشقانه او د شکر ایستنې لپاره و. یوه ورځ یې یوې «بي بي» وپوښت: ته خو الله تعالی ښښلی یې؛ نو ولې دومره عبادت کوې؟ ځواب یې ورکړ: «ایا یو منندوی بنده نه اوسم!»
روژه یې ډېره نیوه، د رمضان میاشتې او د شعبان له یوې برخې پرته، په نورو وختونو کې ورځ ترمنځ روژه کېده، د روژې په روستۍ لسیزه کې په جومات کې «معتکف» کېده او پر عبادت به بوخت و؛ خو نورو ته یې ویل: کافي ده، په هره میاشت کې درې ورځې روژه شئ او ویل یې: د وسې هومره عبادت وکړئ او تر خپلې وسې ډېر با مه اوچتوئ؛ ځکه پایله یې اپوټه ده، د رهبانیت، گوښه کېناستو او کورنۍ پرېښودو چورلټ مخالف و او

ځيني يارانو يې چې داسې هوډ کړی و، و يې رټل او و يې ويل:
«ستاسې بدن، مېرمن/ مېړه، اولاد او ياران پر تاسې حقوق لري، چې بايد تر سره يې کړئ.» چې په خپله يې عبادت کاوه؛ نو اوږد يې کاوه او پر تهجدو به پر ساعتونو بوخت و؛ خو د جماعت لمونځ يې لنډ شانته او په لنډو کاوه.

## ۱۰-ساده ژوند

ساده اوسېدل يې د ژوند اصول ول، ساده خواړه يې خوړل، ساده جامې يې اغوستې او ساده ګرځېده. ناسته يې پر پوزکي او ځمکه وه، په خپله يې وزې لوشلې او پر بې کتې سورلۍ سورېده او د سورلۍ پرمهال چې به چا بدرګه کاوه؛ نو دې کار ته يې نه پرېښوده، ښه خواړه يې اوربشينه ډوډۍ او کجورې وې، پنې او جامې يې پخپله ګنډلې، خو له ساده ژوند سره سره د فقر، بېوزلۍ او نشتمنۍ د فلسفې پلوی نه و، پر شرعي لارو د شتمنۍ لګول يې د ټولنې پر ګټه ګڼل او ويل يې: «نعم المال الصالح للرجل الصالح: څومره ښه ده، د مشروع لارې لاس ته راغلې شتمني،

چې د صالحو خلکو په لاس کې وي او د لګښت پر ځای يې هم پوهيږي» او هم يې ويلي: «نعم العون علی تقوی الله الغنی= مال او شتمني د تقوا لپاره ښه مرستندوی ده.» نشتمني يې ځان ته وياړ باله (الفقر الفخری)؛ خو ټولنې ته يې د کفر لامل (الفقر کان يکون الکفر)؛ نو په همدې پار يې له ټولنې د نشتمنۍ او بېوزلۍ جرړې پرې کولې.

## ۱۱-اراده، زغم او استقامت

حضرت پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د بې سارې ارادې او استقامت خاوند و، د نبوت ۲۳ کلن پېر يې د ارادې، زغم او استقامت سبق و، په خپل ژوند کې، ډېر له داسې شرايطو سره مخ شوی و، چې له هر لوري به هيلې پرې شوې؛ خو د يوې شېبې لپاره يې هم د ماتې تصور نه کاوه او پر خپل بريالیتوب يې ټينګ ايمان درلود.

## ۱۲-مشري، سمبالنه او مشوره

یارانو یې حکم سملاسي عملي کاوه او ویل یې: «موږ پر تا ټینګ ایمان لرو، که امر راته وکړې، چې سیند ته ځان واچوئ یا اور ته ودانګئ؛ نو په سر سترګو یې منو.»
خو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم کله هم له دوی سره د مستبدینو په شان چلن و نه کړ او په هغو چارو کې چې د الله تعالی له لوري به وحې ورته نه راتله، مشوره یې کوله او د بل د نظر درناوی یې کاوه او له دې لارې یې شخصیت ورکاوه. د بېلګې په توګه: په بدر کې یې د جګړې کولو، سنګر جوړولو او له جنګي بندیانو سره د چلن په هکله، له خپلو یارانو سره مشوره وکړه. د احد، احزاب او تبوک په غزاګانو کې یې هم له خپلو یارانو سره په نرمۍ چلن کاوه او له خدایه یې ښښنه ورته غوښته او مشوره یې ورسره کوله؛ نوځکه خو پر زړونو واکمن و او قرآن مجید دې مطلب ته اشاره کړې:

((وَلِلّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَإِلَى اللّهِ تُرْجَعُ الأُمُورُ[1]= او (دا څنګه کېدای شي، الله تېرى وکړي؟! حال دا) څه چې په اسمانونو او څه چې ځمکه کې دي، يوازې د الله دي او ټولې چارې يوازې الله ته ورستنول کېږي (او د ده په امر دي).))

## ۱۳-نظم او پېيون

د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم چارې د بشپړ نظم او انضباط له مخې وې او مهال ویش یې درلود او نورو ته یې هم ددې چار سپارښت کاوه. اصحابو یې هم چورلټ نظم مراعت اوه او ځینې هوډونه یې چې لازم نه ګڼل، نورو ته ښکاره شي، چې هسې نه دښمن ترې خبر شي؛ نو دوی هم ټنیګ خواله ساتې وو. یارانو یې حکم بې ځنډه پلي کاوه، د بېلګې په توګه: چې امر به یې وکړ: سبا تګ ته تیار وسئ؛ نو ټول به په پېغمبر صلی الله

[1] آل عمران\ ۱۰۹

علیه و آله وسلم پسې روان وو، بې له دې چې له روستي مقصده خبر وي؛ خو په روستیو شېبو کې به پر مقصد پوهېدل، کله به یې یوې ډلې ته د تګ حکم ورکړ او بولندوی ته به یې لیک ورکړ: پلاني ځای ته چې ورسېدې؛ نو لیک به پرانځې او پر لیکلي حکم به عمل وکړې؛ نو همدغسې یې کول او هغه ځای ته تر رسېدو مخکې، پر موخه نه پوهېدل، چې څه ماموریت ورکول شوی او په دې توګه یې د دښمن څرې غافلګیره او بې خبره ساتل.

**۱۴- نیوکه منل؛ خو له غوړه مالۍ کرکجن**

کله به پر آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ځینو یارانو نیوکه کوله؛ خو آنحضرت بې له دې چې تندی تریو کړي، په پوره نرمۍ یې له خپل کړي هوډه د دوی نظر را اړاوه.

له غوړه مالۍ یې کرکه درلوده او ویل یې: «د غوړمالانو پر مخ خاورې وشیندئ.» سم، پوره او بشپړه کار سر ته رسول یې ښه ګڼل. چې کله یې مخلص یار حضرت سعد بن معاذ (رض) وفات

شو او په قبر کې یې کېښود؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم، په خپلو مبارکو لاسونو ډبرې پرط ولګولې او و یې ویل: «پوهېږم، چې څه وخت روسته دا ټول ړنګېږي؛ خو کوم بنده چې کار سم او پوره پای ته ورسوي؛ نو دا عمل یې الله تعالی ښه ګڼي.»

**۱۵-له کمزوریو ټکیو سره مبارزه**

د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم له اخلاقو یو دا هم و، چې د خلکو له ناپوهۍ یې د ځان پر ګټه کار نه اخسته؛ بلکې خلک یې پر خپلې ناپوهۍ او کمزوریو ټکیو پوهول. کومه ورځ چې یې اتلس میاشتنی زوی؛ ابراهیم وفات شو؛ نو لمر تندر ونیو او ځینو ویل: پر پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم دومره مصیبت دی، چې ان لمر هم تندر ونیو؛ خو پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د دوی ددې خبرې په اړه چوپ پاتې نه شو او ددې کمزوري ټکي له منځه وړو او د خلکو د فکر روښانولو لپاره ممبر

ته وخوت او و يې ويل: «ای خلکو! لمر و سپوږمۍ د الله تعالی له نښو څخه دوه نښې دي، چې د چا پر مړينه نه ژاړي.»

## ١٦- بشپړ او تکړه لارښود

حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم بشپړ او تکړه مشر و؛ ځکه:

١-تشخیص، درک، پرېکندتوب، مړانه او زړورتیا یې درلوده چې کله یې د یوه کار د سر ته رسولو هوډ کاوه؛ نو له احتمالي عواقبو یې نه وېرېده.

٢-د اټکل او لرې فکر خاوند و او د نیوکې زغم یې درلود.

٣-انسان پېژاندی و او د وړتیا له مخې گومارنه یې کوله.

۴-په وگړيزو چارو کې نرم دریځه او په اصولي چارو کې سخت دریځه و.

۵-د خپلو یارانو عقلي، عاطفي او عملي وړتیاوې یې روزلې، شخصیت یې ورکاوه او سلا مشوره یې ورسره کوله.

٦-له استبداد او سر زورۍ يې ځان خوندي ساته او پټې سترګې يې څوک اطاعت ته نه رابلل.
٧- تواضع، ساده ژوند، برم، پرتم او سړيتوب يې درلود.
٨-له تشکيلاتي فعاليتونو سره يې ځانګړې مينه درلوده او خپل ټول ياران يې د دوی د وړتياوو په پامنيوي، په تشکيلاتي کړيو کې ګومارلي وو او ويل يې: «که درې تنه پر لارې روان وئ؛ نو يو تن خپل مشر وټاکئ.»
په مدينې منوره کې د تشکيلاتي دندو له مخې، يوې ډلې قرآن ليکه او د وحې کاتبان وو، بلې ډلې به «ليکونه» ليکل، بلې به د خلکو معاملې او لوزنامې ثبتولې، ځينو به صدقات او ماليات ثبتول او ځينو به تړونونه ليکل.
حضرت پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم په مدينه کې د «اسلامي تشکيلاتو» پر بنسټ جومات جوړ کړ، چې د ټولنيز، سياسي، فرهنګي او عمومي چوپړونو آريز مرکز و، چې په لاندې ډول يې تشريح کوو.

۱-د جومات په ختیزه څنډه کې حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له خپلې کورنۍ سره اوسېده.

(( إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً=[1] الله خو یوازې دا غواړي چې له تاسې کوروالو؛ ((اهل البیت = نبوي کورنۍ)) ناپاکي لرې کړي او پوره مو سوتره کړي.))

دا ډېره مهمه مسله ده؛ ځکه جومات د خلکو کور دی او باید د خلکو مشر هم، مېشت وي.

۲-د جومات په جنوبي څنډه کې «محراب» دی، چې دلته به حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم خلکو ته د جماعت لمونځ ورکاوه.

[1] احزاب\ ۳۳

۳-د جومات ختیزې څنډې ته د حضرت فاطمة الزهرا (رض) کور دی او دلته حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم انفرادي لمانځه ته د «تهجدو محراب» جوړ کړی و.
۴-د جومات جنوب لویدیزې څنډې ته یوه وړه خونه وه، چې آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم به دلته اندنه، سوچ او خلوت کاوه.
۵-د «محراب» تر څنګ «ممبر» و، چې دلته به یې له خلکو سره خبرې کولې.
٦-د کور په مخ کې یې څو ستنې وې چې دا دي:
الف- اسطوانة السریر: دلته آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم استراحت کاوه.
ب- اسطوانة الحرس: دلته به آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ته پاسوال ولاړ و.
ج- اسطوانة الوفود: دلته آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د ټبرونو، دولتونو او د بهرني مذاهبو او ادیانو له استازیو سره کتل.
د- اسطوانة ابی لبابه یا اسطوانة التوبه.

۵- اسطوانة حضرت عایشه (رض).
۷-د جومات شمالي څنډې ته «کېږدۍ» وه، یوې ښځې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په حکم کېږدۍ درولې وه، چې د سولې پر مهال یې رنځوران او د جګړې پر مهال یې ټپیان پالل.[۱]
۸-جومات د جرګې، شورا، عمومي هوډ، رفرانډم، ټولټاکنو، بیعت، د جنګ په اړه د مشورو، ټولنیزو خطراتو، سیاسي چارو، د خلکو شکایتونو، نیوکو او د داسې ازاد پارلمان (ولسي جرګې) حیثیت درلود، چې هر چا به په خپله استازولۍ، ګډون پکې کاوه.
۹-جومات د تدریس او بحث مرکز و، په ازاد او غیر رسمي توګه به «پوهاند اصحاب» ډله ډله کېناستل او خلک به ترې راچاپېره ناست ول د آیتونو، احادیثو او دیني چارو په اړه به یې بحث کاوه.

---

[۱] یادونه: حال دا، لوېدیځوال ددې ستر انساني هنر بنسټګره؛«میرمن نایتینګل» بولي.

۱۰-د جومات شمال ختیزې څنډې ته یو چوتره (صفه) وه، چې د یو شمېر سترو مجاهدینو د اوسېدو ځای و، چې دا چوتره د «اصحاب صفه» په نامه یادېږي، په هغې زمانې کې «صفه» له جومات بهر وه؛ خو اوس په جومات کې وردننه شوې؛ خو نور «اصحاب کرام» په خپلو کورونو کې نژدې او لرې اوسېدل.

ددې تشریح په نظر کې نیوو سره، د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د ده د یارانو سازماني تشکل د متحد المرکز دایرو غوندې و، لومړی حلقه «اهل البیت»، دویمه حلقه «اصحاب= اهل صفه» او د درېیمه کړی«اصحاب» وو.

حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د دایرې مرکز (اولی الامر) او اهل البیت او یاران یې د مبارزاتي مخېنې، تقوا او علمیت د درجو له مخې، په درېیو کړیو کې راټول شوي ول.

## ۱۷-د تبلیغ کړنلار

د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم تبلیغاتي دود پر زېري او هیلمنولو ولاړ و، نه پر وېرولو او ګواښ. یو صحابي یې د تبلیغ لپاره یمن ته لېږه؛ ورته یې وویل:

«خلک په تنګسه او سختۍ کې مه نیسه؛ بلکې آساني کوه؛ همدا راز زېری ورکوه او مه یې ډاروه.»

د اسلامي تبلیغ په باب یې ټینګه پاملرنه درلوده او په دې باب یې ځانګړي تحرکات درلودل، د بېلګې په توګه: پخپله یې طایف ته سفر کړی او د حج په موسم کې پر بېلابېلو ټبرونو ګرځېده.

یمن ته یې یو ځل حضرت علي کرم الله وجهه او بیا حضرت معاذ بن جبل (رض) واستول او مخکې له دې خپله مدینې ته راشي؛ نو حضرت مصعب بن عمیر (رض) یې د تبلیغ لپاره ولېږه. دغسې یو شمېر یاران یې حبشې ته واستول، چې په دې ترڅ کې د مکیانو له آزار او ربړونې هم خلاص شي او هم، هلته اسلامي تبلیغات وکړي، د هجرت پر شپږم کال یې د نړۍ یو شمېر مشرانو

ته بلنلیکونه ولېږل او اسلام ته یې راوبلل، چې ځنې یې اوس هم شته.

**۱۸-خلک یې علم ته هڅول**

حضرت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم خپل یاران د علم زده کړې ته هڅول او د اصحابو کرامو عیال یې لوست ته هڅول. د بدر غزا لوستو بندیانو ته یې وویل:

«که زموږ (مهاجرو-انصارو) لس زامن لوستي کړئ آزاد اوسئ.»

ځینې یارانو ته یې حکم وکړ: «سریاني» ژبه زده کړئ، ویلي یې دي:

*«د علم زده کړه پر هر مسلمان (نارینه و ښځه) فرض ده».

*«حکمت چې له هر چا سره (ان که منافق یا مشرک هم وي) وی او هر چېرې وي، زده یې کړئ»

*«د علم زده کړې په لټه کې شئ ان که په چین کې وي.»

د علم په باب، د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم هڅونې او ټینګار ددې لامل شوی، چې مسلمانان په بې سارې مړانه په ټوله

نړۍ کې د علم زده کړې په لټه کې شول او پر پلټنو یې پیل وکړ او د نورو علمي اثار یې هم وژباړل، چې ددې هڅو په ترڅ کې، مسلمانانو د پخوانیو تمدنونو (یونان- روم- فارس- مصر- هند) او نوې اروپایي تمدن ترمنځ د اړیکو د پُل حیثیت غوره کړ او خپله هم د بشري تاریخ په مسیر کې د ځلانده فرهنګ او تمدن خاوندان شول، چې د اسلامي فرهنګ او تمدن په نامه یادیږي او اروپایانو هم له همدې فرهنګ او تمدن زده کړه کړې ده.

له دې لیکنې جوته شوه؛ لکه څنګه چې د حضرت پیغمبر دین (اسلام) او خبرې هر اړخیزې دي، دغسې یې اخلاق او خوی هم دی.

تاریخ کله هم داسې یو انسان چې په ټولو انساني اړخونو کې د کمال پړاو ته رسېدلی وي، په سترګو نه دی لیدلی. په رښتیا هغه «بشپړ او پوره انسان» و.

## د عقيدتي اصولو درېيم اصل؛

## معاد او قيامت

دلته د قيامت پر ورځ بحث په دوو برخو ويشل شوى دى:

**لومړى برخه:**

د اسلام له اعتقادي اصولو، يو هم پر «آخرت» ايمان درلودل دي، ايمان په دې چې ددې نړۍ ټول مخلوقات د عمر له پاى ته رسېدو روسته مري او بيا په لوړه کچه، په همدې تن او جسم راژوندي کېږي او د «الهي عدل» حضور ته حاضرېږي «چې بدکارانو ته د بدو کړنو سزا او نېکانو ته د نيکو کړنو اجر ورکړ شي.»

((وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاؤُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى[1] = او په اسمانونو او ځمکه

---

[1] نجم- ۳۱

کې، چې هر څه دي، يوازې د الله دي (او د خلکو د کړنو پرېکړه الله کوي) چې بدکارانو ته يې د بدو کړنو له مخې سزا ورکړي او نېکانو ته يې د نېکو کړنو غوره بدله ورکړي.))

که يو ربتين او پوه نوونګر يو مشين جوړ کړي او تاسې ته يې راولي او تضمين يې کړي، چې د خرابېدو په حالت کې به يې د لومړي ځل په څېر درته جوړ کړم؛ نو ستاسې يې دا خبره منئ او يقين مو راځي.

دغسې د معاد او قيامت مسله هم ده، الله تعالى د ټولو موجوداتو او پنځون مبدع او مبتکر دی[1]؛ پر هر کار قادر او وسمن دی[2]؛

---

[1] (روم- ۲۷)

[2] (الاحقاف- ۳۳)

علیم دی؛[1] خالق او پنځګر دی[2]؛ د ارادې څښتن دی[3]؛ نو سمه ده، چې داسې څوک به هرومرو خپله ادعا عملي کوي او د انسانانو د پنځون نوونګر، چې همدی دی؛ نو له مرګ روسته دویم ځل یې هماغسې د لومړي ځل په څېر راپاڅوي او همداراز څوک چې د ستر کار په سر ته رسولو قادر او وسمن وي؛ نو د کوشنیو چارو سر ته ورسول خو بیخي ورته اسان دي.

((أَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاء بَنَاهَا[4]= آیا (تر مرګ روسته) ستاسې پیدا کول ډېرسخت دي، که د اسمان، چې (الله) جوړ کړی دی؟!))

((أَوَلَمْ يرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى بَلَى إِنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

---

[1] (سبا-۳)

[2] (الاحقاف- ۳۳)

[3] (یس- ۸۲)

[4] النازعات- ۲۷:

=[1] ایا نه پوهېږي، هغه الله چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي او په پنځون کې يې (بېوسې او) ستړی شوی نه دی (؛ نو) مړي هم راژوندي کولای شي؟ هو! (؛ ځکه) چې هغه پر هر څه وسي دی.))

## د قيامت دلايل

دلته په لنډو د قيامت په باب نقلي، علمي، طبيعي او فلسفي دلايلو ته اشاره کوو.

### ۱-نقلي دلايل

الف- سل کاله روسته د حضرت عزير عليه السلام او د هغه د سورلۍ د څاروي راژوندي کېدل.

---

[1] الاحقاف- ۳۳

((فَإِن زَلَلْتُمْ مِّن بَعْدِ مَا جَاءتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ [1]= خو كه تاسې د ځرګندو نښو له درتلو روسته وښويېدئ (او بېلارې شئ)؛ نو پوه شئ (چې د الله د عدالت له منګولو تښتېدای نشئ) چې الله ځواکمن حکيم دی.))

ب- د حضرت عيسى عليه السلام په لاس د مارغه جوړېدل.

((وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِىءُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ بِإِذْنِي [2]=تا زما په حکم له خټې د مرغۍ (جوثه) جوړوله او پکې دې پوکی کاوه او جوثه به زما په حکم مرغۍ شوه، تا زما په امر مورزېږي ړانده او د برګي (پيس) ناروغان رغول او زما په امر دې مړي (هم) ژوندي کول او ياد کړه چې کله تا بني اسراييلو ته معجزې راوړې (؛ نو) ما ته د دوی له

---

[1] بقره- ۲۰۹

[2] مائده- ۱۱۰

زيان دررسوني وژغورلي؛ نو د دوی کافرانو وويل: (( دا خو ښکاره کوډې دي. ))
ج- له (۳۰۰) کلونو روسته د «اصحاب کهف» بېرته راژوندي کېدل.
((وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا[۱]= او دوی په خپله سمڅه کې درې سوه کاله پاتې شول او نهه کاله يې [نور هم پرې] ورزيات کړل. ))

## ۲-علمي او طبيعي دلايل

الف-د جنين هېښنده پنځون او په زيلانځ کې يې راژوندي کېدل.
((يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاء إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلاً

---

[۱] کهف- ۲۵

ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّى وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاء اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ [1]= خلکو! که تر مرگ روسته ژوند په اړه شکمن یاست (؛ نو دې تکي ته پام وکړئ، چې) موږ تاسې له خاورې پيدا کړي ياست، بیا له څاڅکي، بيا د کلکې پرنډې وينې (له یوې ټوټې)، بیا د غوښې له یوې بوټۍ [= ژولې غوښې ته ورته یو څيز]، چې پوره بڼې والا هم وي او نیمگړې بڼې والا هم چې [خپل قدرت] درڅرگند کړو (چې موږ پر قيامت قادر یو) او جنینونه چې وغواړو تر یوې ټاکلې مودې يې (د ميندو) په رحمونو (زيلانځو) کې تم کړي ساتو (او هغه چې وغواړو؛ نو غورځوو يې) بیا مو د یوه ما شوم په بڼه راباسو، بيا موخه داده، چې د خپلې ودې او مړانې برید ته

---

[1] حج- ٥

ورسئ، په دې ترخ کې ځينې (درنه) مړه کيږي او ځينې دومره عمر کوي، چې د ژوند ناکاره پړاو (او زړښت) ته رسي؛ داسې چې پر هر څه تر پوهېدو روسته بيا پر هېڅ نه پوهيږي. (بلخوا) او ته (په ژمي کې) ځمکه وچه، مړاوې او شاړه وينې؛ خو چې کله باران پرې و وروو (نو) وخوځي او را ډډه شي او هر ډول ښکلي بوټي راټوکوي.))

ب- په پسرلي کې د ځمکې ډډېدل او د گياوو بوټو راټوکېدل.[1]

**۳-فلسفي دلايل**

**الف- انسان ځان مطلوب کمال ته رسوي**

---

[1] پورته آيت

په دې نړۍ کې د انسان د تکاملي بهير د مېوې راټولو لپاره بلې نړۍ ته اړتيا ده.

((يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَاقِيهِ[1]= انسانه! په حقيقت کې ته د خپل پالونکي لوري ته پوره هڅې کوې (او کړاوونه ګالې)؛ نو ورسره به مخ شې؛))

مشهور اسلامي عالم «صدرالمتالهين» وايي:

انسان د کمال پر لوري روان دی او فطرتاً غواړي فعالی مبدأ (الله تعالی) ته نژدې شي؛ خو هغه کمال چې د انسان له شان سره ښايي، په دې نړۍ کې ورته نشي رسېدای؛ بلکې يوازې بله نړۍ ده، چې انسان خپل مطلوب ته رسولای شي.

---

[1] انشقاق-٦

**ب- قيامت د الهي عدل/ نياو په رڼا کې**

که بې له دې نړۍ بله نړۍ نه وي؛ نو «نېکي او بدي»، «سمونه او ورانونه» به يو شان ګڼل وي، چې دا هيڅکله له «الهي عدل» سره نه ښايي.

د «الهي عدل» غوښتنه ده، چې په دې نړۍ پسې يوه بله نړۍ وي، چې د الله تعالى، عدل پر ټولو پلي شي او له ټولو سره حساب وشي؛ «ظالم» له «مظلوم» او «فاسد» له «مصلح» نه بېل شي؛ نو ځکه د قيامت يو نوم «يوم الفصل» دی.

((وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ[1]= او (ورته ويل کېږي:) ای مجرمانو نن (له نېکانو) بېل شئ. ))

((أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ[2]= ايا هغوی چې ايمان راوړی

---

[1] يس- ۵۹

[2] ص- ۲۸

او ښه کړه وړه يې کړي، د هغه چا په څېر کړو، چې په ځمکه کې فساد کوي يا متقيان د بدچاريو په څېر کړو؟!))

((أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَّن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاء مَّحْيَاهُم وَمَمَاتُهُمْ سَاء مَا يَحْكُمُونَ[1] = ايا هغوی چې بدې چارې او گناهونه کړي، انگېرلې ده، چې موږ به دوی د هغو کسانو په څېر کړو، چې ايمان يې راوړی او ښه (چارې يې) کړي (داسې) چې د دوی ژوند او مرگ يو رنگ دی؟! څومره بده پرېکړه کوي!))

---

[1] الجاثيه- ۲۱

**ج- قیامت د الهي حکمت په رڼا کې**

الله تعالی حکیم ذات دی، هر څه یې د یوې ځانګړې موخې لپاره پنځولي؛ نو ځکه د انسان او جهان پنځون هم د یوې موخې لپاره دي.

د قرآن کریم په ډېرو آیتونو کې د الله تعالی پر لوري د انسان ورتګ ته اشاره شوې؛ لکه:

((وَأَنَّ إِلَى رَبِّكَ الْمُنتَهَى[1]= او داچې (د کار) پای یوازې ستا د پالونکي پر لوري ده))

((أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ[2]= نو ایا تاسې انګېرئ، چې موږ خوشې پیدا کړي یاست او داچې زما لوري ته به نه راګرځول کېږئ؟!))

---

[1] نجم- ۴۲

[2] المؤمنون- ۱۱۵

**د- د الله تعالی ژمنه**

الله تعالی له بشر سره ژمنه کړې، چې نېکانو ته به اجر او بدکارانو ته به سزا ورکول کیږي؛ نو اړینه ده، چې الله تعالی به خپله ژمنه تر سره کوي.

(( إِنَّ اللَّهَ لاَ يُخْلِفُ الْمِيعَادَ[1] = الله ژمنماتی نه دی.))

(( إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ[2] = بېشکه څه چې (د قیامت په باب) ژمنه درسره کیږي، هرومرو پېښېدونکی دی؛))

**دويمه برخه:**

د «اسلامي نړی لید» له اصولو یو اصل پر «آخرت» ایمان درلودل دي، که څوک له دې ورځې منکر شي، مسلمان نه دی.

---

[1] رعد- ۳۱

[2] مرسلات- ۷

الهي پېغمبرانو د «توحید اصل» تر اوښارولو روسته، خلک پر «آخرت» ایمان راوړو ته رابللي دي.
قرآن کریم د ۱۶۴۰ آیتونو په ترځ کې له «مرګ روسته ژوند» د «قیامت ورځ» د «مړیو د راژوندي کېدو څرنګوالی»، «میزان» د «کړنو ثبت»، «جنت»، «دوزخ» د «اخروي ژوند همېشه والی» او په «آخرت» پورې اړوند چارو بحث کړی، چې دا شمېر آیتونه، د قرآن کریم د ټولو آیتونو ۲۸،۵ سلنه جوړوي؛ نو له دې ځایه جوېږي، چې قرآن عظیم الشأن د «معاد» مسلې ته ډېره پاملرنه لري.
قرآن کریم «قیامت» په بېلابېلو نومونو یاد کړی، چې یو نوم یې «الیوم الاخر» دی. چې موږ دلته له دې تعبیره دوه خبرو ته پاملرنه کوو:
**(۱) د انسان ژوند دوه پړاوونه لري:**
الف- دنیوي پړاو
ب-اخروي پړاو

دنيوي پړاو د «اولی» په نامه هم تعبير شوی، دا پېر تمامېدونی او ختمېدونی دی.

د آخرت ورځ يا پړاو، نه تمامېدونې او نه ختميدونې ده.

((وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ[1] = او په حقيقت کې پای (آخرت) او پيل (دنيا) هم يوازې زموږ دی،))

(( وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ[2] = او هرومرو آخرت درته تر دنيا غوره دی))

(۲) پر اخروي ژوند ايمان درلودل، د دنيوي او اخروي ژوند د نېکمرغۍ لامل ګرځي؛ ځکه نوموړی ايمان زموږ پام دې ته ور اړوي، چې په دې نړۍ کې کړي عملونه مو عکس العمل او غبرګون لري؛ نو داسې نه ده، چې کړنې مو ورکې او بې پايلې دي؛ بلکې زموږ کړنې، زموږ غوندې «پيل» او «پای» لري؛ نه له

---

[1] ليل- ۱۳

[2] ضحی- ۴

منځه ځي او نه ورکېږي؛ نو ځکه زموږ د نيتونو او کړنو د الهي کېدو اجرايي ضمانت پر همدې ورځي مؤمنېدل دي.
بلخوا نوموړی ايمان راښيي، چې په «آخرت» کې نېکمرغه کېدل، د انسان ددې نړۍ په نيتونو او کړنو پورې اړه لري؛ نو ځکه قرآن کريم، د انسان د نېکمرغۍ لپاره، د «آخرت» پر ورځ ايمان درلودل اړين بولي.

**پر «اخروي ژوند» ايمان درلودل، له کومه سرچينه اخلي؟**

ټولو پېغمبرانو، بشر ته د «توحيد» تر معرفي کولو روسته، د «آخرت» پر ورځ ايمان درلودل، ابلاغ کړي.
په اسلامي فرهنگ کې چې «توحيد، نبوت، معاد» د دين د اصولو په نامه پېژندل شوي؛ نو بشر د الله تعالی پر پېژندنې او د پېغمبرانو د ويناو په رښتينولۍ د ايمان تر پيدا کولو روسته او هغه چې پېغمبران يې وايي «وحې» او د الله له لوري ده؛ نو ځکه چې کله پېغمبرانو «معاد» نوموتې کړ، پرې «مؤمنان» شول؛ نو څرگنده شوه، چې بشر د «وحې» له سرچينې، پر معاد ايمان راوړی دی.

پر «وحې» سربېره، بشر په علمي، عقلي، اروايي او انديزو هڅو هم د معاد د تاييد، سمښت، صحت او ګروهې لپاره لارې چارې شته.[1]

خو موږ «معاد» د وحې او نبوت له لارې څېړو.

د اخروي ژوند پر چارو د رڼا اچولو لپاره لاندې سرليکونه څېړو.

۱-د مرګ منځپانګه

۲-تر مرګ روسته ژوند

۳- برزخي نړۍ

۴-لوی قيامت (قيامت کبری)

۵-د دنيوي اخروي ژوند ترمنځ اړيکه

۶-د کړنو انځورنه

۷-د دنيوي ژوند او اخروي ژوند ترمنځ ګډه او بېل ټکي.

---

[1] په دې باب وګورئ:(۱) ارواښاد مودودي، له مرګه روسته ژوند، عقلي زباد (۲) له اروايي پلوه هندي ارواپوه جی پی واسوني، تر مرګ روسته ژوند په باب ښې څېړنې لري، کتاب يې په پښتو هم ژباړل شوی دی؛

۸-د اخروي ژوند په باب د قرآن استدلال.

**د مرگ منځپانگه**

قرآنکریم د انسان د مرگ او روح اخستو لپاره ځانگړی تعبیر لري، دا تعبیر په «توفی» یاد شوی او وایي: پرښتې د مرگ پر مهال انسان **توفی** یا بېرته اخلي.

«توفی» لاس ته راوړو ته وایي، یو سړی چې خپل ټول مال، بشپړ او بې له څه کمي زیاتي تر لاسه کړي؛ نو وایي چې «توفیت و المال».

نو د قرآن له نظره، د مرگ منځپانگه «توفی= بېرته اخستل» دي؛ یعنې د مړینې پرمهال د انسان ټول «شخصیت» او «واقعیت»، الهي مامورینو ته بېرته ورکول کېږي.

له دې تعبیره لاندې مفاهیم راوځي:

الف- مرگ نابودي، نیستي، فنا او له منځه تگ نه دی؛ بلکې تحول، بدلون، ارتقا او له یوې نړۍ، بلې نړۍ ته تگ او په بل ډول د انسان د ژوند غځېدا ده.

ب- بدن او بدني غونډال، د انسان واقعي «شخصیت» نه دی؛ ځکه بدن او بدني غونډال چا ته بېرته نه ورکول کېږي او سوکه سوکه همدلته له منځه ځي؛ نو د انسان واقعي شخصیت یې «روح» دی.

(ج) د انسان د «واقعي شخصیت» ملاک او «معیار» روح دی، چې د روح همېشه والی د انسان همېشه والی دی. روح «نامادي» دی، چې د مرګ پرمهال پرښتو ته ورکول کېږي.

(( إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَـئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيراً[1]= په رښتینه کې هغوی چې پر خپلو ځانونو یې ظلم کړی و (د روح قبضولو) پرښتو د ساه اخستو پر مهال ورته وویل: ((په څه حال کې وئ؟)) (او سره له دې، چې مسلمانان وئ؛ خو د کفارو په لیکه کې وئ)؟

[1] نساء- ۹۷

ځواب يې ورکړ: ((موږ په خپله سيمه کې تر زور زياتي لاندې او کمزوري وو.)) هغوی [= پرښتو] وويل: ((ايا د الله ځمکه پراخه نه وه، چې هجرت مو پکې کړی وای؟!)) (څه عذر يې نه درلود)؛ نو هستوګنځی يې دوزخ دی، چې د ورتلو ناکاره ځای دی.))

په دې آيت کې مرګ په «توفی» تعبير شوی او بلخوا، تر مرګ روسته شېبو کې د پرښتو او انسان ترمنځ احتجاجيه خبرې اترې راښيي، چې په مړينه کې انسان په بل ډول سترګو، غوږونو او ژبې، له ناليدونيو موجوداتو (پرښتو) سره ويل اورېدل کوي؛ نو ځکه که له مړينې روسته د انسان واقعي شخصيت (روح) پاتې نه وي او د انسان واقعي شخصيت بې حسه او بې شعوره تنه وي؛ نو مکالمه څه معنا لري؟

((وَقَالُوا أَئِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ أَئِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ بَلْ هُم بِلِقَاء رَبِّهِمْ كَافِرُونَ .قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ= او (کافران) وايي: ((ايا چې موږ (مړه او) په ځمکه کې ورك (او خاورې) شوو؛ نو ايا (بيا) به په رښتيا له سره

نوي پیدا شوو؟))؛ بلکې دوی (په قیامت کې) له خپل پالونکي سره له مخامخېدو منکر دي (او له معاده په منکرېدو غواړي پخپل سر خپلو مزو چړچو ته دوام ورکړي). ووایه: ((پر تاسې، چې د مرگ پرښته گومارل شوې، ساه مو اخلي، بیا د خپل پالونکي لوري ته ورغبرگېږئ.))

دا آیت په غوڅه توگه، تر مرگه روست د انسان د واقعي شخصیت پایښت او بقا د «روح بقا» اعلانوي، سره له دې چې د بدن غړي یې فنا کېږي.

له دې آیتونو دا جوتېږي، چې د قرآن له نظره د مرگ منځپانگه نیستي او نابودي نه؛ بلکې له یوې نړۍ بلې ته تلل دي.

# تر مرگ روسته ژوند

الف- برزخي نړۍ

ب- لوی قيامت

**الف- برزخي نړۍ:**

د لغت په لحاظ، د دوو څيزونو ترمنځ واټن ته «برزخ» وايي؛ نو ځکه د دنيوي ژوند او اخروي ژوند ترمنځ واټن ته هم «برزخ» ويل کيږي؛ يعنې چې کله انسان ومري، د مرگ له شيبې چې تر قيامته ژوند کوي؛ نو دا ژوند يې د «برزخي نړۍ» يا «برزخي ژوند» په نامه يادېږي.

په دې واټن کې انسان له خوندونو برخمن او يا له رنځونو دردمن وي.

د «برزخي ژوند» پړاو، د دنيوي ژوند په ځير پای ته رسيدونې ده؛ خو د «لوی قيامت» د پړاو ژوند پای ته نه رسي.

١. ((حَتَّى إِذَا جَاء أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم

بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ[1]= (دوی له خپلي بېلارۍ لاس نه اخلي) تردې چې کله يې يو ومري؛ نو وايي: ((پالونکيه! (دنيا ته) مې ورستون کړه؛ ښايي په رانه پاتې شوې نړۍ کې نېکې چارې وکړم.)) (خو ورته به وايي:) داسې نه ده! دا يوه خبره ده، چې وايي يې (او که ورستون شي؛ نو کړه وړه به يې د مخکې په شان وي) او تر شا يې د (بيا ژوندي) راپاڅولو تر ورځې برزخ دی (د قبر پرده ده، چې ستنېدو ته يې نه پرېږدي).))

دا د قرآنکريم يوازېنی آيت دی، چې د مرګ او قيامت ترمنځ واټن ته يې «برزخ» ويلی. اسلامي علماو له همدې ځايه، له «دنيوي ژوند» نه روسته او له «قيامت کبری» مخکې عالم ته «برزخي ژوند» وايي.

دا اآيت ډاګه وايي، چې انسان له مرګ روسته يو ډول ژوند لري، چې دې نړۍ ته د بېرته راګرځېدو غوښتنه کوي؛ خو دا غوښتنه

---

[1] د مؤمنون\ ۹۹- ۱۰۰ آيتونه

يې نه منل کيږي. قرآن کريم د ځو آيتونو په ترځ کې د مرګ له شيبې، ان تر قيامته، د يو ډول ژوند يادونه کړې. په دې ډول ژوند کې ويل او اورېدل، خوند او رنځ، احساس، خوښي او خپګان او بالاخره انسان له يوه ډول نېکمرغۍ او يا بدمرغۍ برخمن وي.

(([1]=(د مرګ) پرښتې، چې د سپېڅليو او پاکانو ساه ګانې اخلي، ورته وايي: ((پر تاسې دې سلام وي! د خپلو کړنو له لامله[ځئ] جنت ته ورننوځئ.)) ))

جنت ځو درجې لري، چې ځينې يې په «عالم برزخ» او ځينې په قيامت پورې اړوند دي. دلته د جنت له يادولو مطلب «برزخي جنت» دی، چې صالحان او نېکان، د الله تعالی له ډول ډول نعمتونو برخمنيږي.

---

[1] نحل\ ۳۲

د بدکارانو لپاره په «عالم برزخ» کې عذاب د «سوء العذاب» په نامه یاد شوی دی.

((وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ[1]= نو الله هغه (مؤمن سړی) د دوی له ناوړو دسیسو وساته او فرعونیان پخپله په ډېر ((بد عذاب)) کې راګېر شول. ( د دوزخ ) اور هر سبا و بیګا ور وړاندې کېږي، او پر کومه ورځ، چې ساعت (قیامت) جوړ شي (؛ نو غږ به وشي:) ((فرعونیان ډېر ((سخت عذاب)) ته ورننباسئ!))

په بدر غزا کې د قریشو یو شمېر مشران ووژل شول. مسلمانانو د هغوی مړي بدر سیمې ته نږدې، یوې څاه ته ورغورځول، حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څاه ته سر وردننه کړ او مړو ته یې وویل:

---

[1] د مؤمن یا غافر ۴۵ او ۴۶ آیتونه

«څه چې الله تعالی مونږ ته د هغو ژمنه راکړې وه، تر لاسه مو کړل، ایا تاسې ته د الله رښتینې ژمنه په رښتیا در و نه رسېده؟»
د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ځنې یارانو وپوښتل!
ایا له مړیو سره خبرې کوئ؟
ایا هغوی ستا په خبرو پوهیږي؟
حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «هغوی یې اوس له تا سو ښه اوري.»
په حدیث شریف کې راغلي:
«خلک ویده دي، چې مړه شي، راویښیږي.»
له دې حدیث شریف نه مطلب دا دی، چې تر مرګ روسته د ژوند درجه، له مرګه مخکې ژوند تر درجې لوړه ده؛ لکه څنګه چې انسان د خوب پرمهال له ضعیف درک او احساسه برخمن وي؛ خو چې ویښ شي، درک او احساس یې پوره کیږي؛ یعنې د خوب پرمهال نیم مړ او نیم ژوندای وي. دغسې د انسان د «دنیوي» ژوند درجه، تر «برزخي» ژوند ټیټه او ضعیفه ده؛ نو کله چې انسان «عالم برزخ» ته ورشي؛ نو د ژوند درجه یې اوچتیږي.

دلته دوو ټکيو ته پاملرنه کوو:

الف- له اسلامي روايتونو جوتېږي، چې په «عالم برزخ» کې له انسانه د «عقيدتي» او «ايماني» بنسټيزو چارو پوښتنه کېږي، د نورو چارو پوښتنه، د حساب پر ورځ «قيامت» ترې کېږي.

ب- هغه بدلونونه، چې په «عالم برزخ» کې د انسان په دوسيه کې منځ ته راځي، په واقع کې د هغه نيالګي مېوه ده، چې په خپل لاس يې په نړۍ کې کرلې او اوس يې سوکه سوکه مېوه خوري يا په بله وينا:

د انسان د کړنو او آثارو مثبت يا منفي پايلې (که څه د اوږدې مودې لپاره وي) په دوسيه کې يې ثبتېږي او له مرګه روسته يې د نېکمرغۍ يا بدمرغۍ لامل ګرځي. هغو انسانانو ته چې د ټولنې د سمون او اصلاح لپاره يې ځانونه وقف کړي، له مړينې روسته «اجر» او «ثواب» رسي. همدا راز هغو انسانانو ته چې د ټولنې د فساد لپاره هلې ځلې کړي، تر مړينې روسته «عذاب» رسي.

له اسلامي رواياتو جوتېږي؛ که د مړي له پاتې کسانو څوک نېکې کړنې په دې نيت وکړي، چې ثواب يې مړي ته ورسي، په «برزخ»

کې د مړي په برخلیک ټاکلو کې ښه اغېز لري. دغسې ښیرې د مړي پر برخلیک منفي اغېز غورځوي.
په دې مفهوم، که چا په دې نړۍ کې د چا حقوق ضایع کړي وي، که له مړیني روسته ښېراوي ورپسې وکړي، د مړي په عذاب کې زیاتوالی راځي؛ نو ځکه په اسلامي ښوونو کې موږ ته سپارښت شوی، چې مسلمانان باید د نورو د مادي او معنوي حقوقو له لتاړلو کلکه ډډه او یو بل ته ښښنه وکړي، له مړینې روسته په چا پسې بد و نه وایئ.
حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «اذکروا امواتکم بالخیر= خپل مړي په خیر او نیکۍ یاد کړئ» یعنې د بدیو له یادولو یې ډډه وکړئ.

## لوی قیامت

مخکې مو وویل، د انسان تر مرگ روسته ژوند دوه پړاوونه لري. یو پړاو یې «برزخي ژوند» دی، چې په وگړي پورې اړه لري او بل یې د «قیامت ژوند» دی. دا ژوند نه یوازې په یوه وگړي؛ بلکې

ټولو وګړیو پورې اړه لري. په «قیامت» پېښه کې نړۍ یو نوي پړاو ته رسي، چې په نوي نظم، نوی ژوند پیلوي. قرآن د قیامت له لوی پېښې خبر کړي یو.

**ددې پېښې په پیل سره:**

ستوری تتېږي، لمر رڼا له لاسه ورکوي، سمندرونه وچېږي، کندې هوارېږي، غرونه خواره واره کېږي، لړزېدنې، غورهار او بې ساري لوی انقلابونه او بدلونونه منځ ته راځي.

له قرآن کریم نه د پوهېدنې له مخې ټول عالم د ورانۍ او خرابۍ پر لوري روان دی، ټول څیزونه ورانېږي او بیا نوې نړۍ په نوي ډول زیږېږي او له نوي نظم او قوانینو سره د تل لپاره پاتېږي.

د قیامت نظم او قوانین، ددې نړۍ له نظم او قوانینو نه توپیر لري.

په قرآن کریم کې «قیامت» په بېلابېلو نومونو یاد شوی، چې هر یو نوم یې د ځانګړي نظم او حالت ښوونکی دی، د بېلګې په توګه:

د «حشر ورځ» د «راټولېدو ورځ»؛ ځکه پر هغه ورځ، «ړومبی» او «روستی» سره یو ځای کېږي او زماني واټن یې له منځه ځي.«یوم

تبلی السرائر» یا د «نشور ورځ»؛ ځکه باطن ښکاره او پیچلي حقایق رابرسېرېږي. د «یوم الخلود» ورځ؛ ځکه دا ورځ «تلپاتې» وي او نه فنا کېږي. د «یوم الحسرة» یا «یوم التغابن» ورځ؛ ځکه انسانان سخت پښېمانه وي، چې ولې به مو ددې ورځې لپاره چمتووالی نه نیوه. د «نباء عظیم» په نامه یاده شوې؛ ځکه ډېرې لوی پیښې او خبرې منځ ته راغلي.

## د دنیوي ژوند او اخروي ژوند ترمنځ اړیکه

په اسلام کې «معاش» او «معاد»، «مادیت» او «معنویت»، «نړۍ» او «آخرت» یو له بله بېل نه دي او نه سره په ټکر کې دي؛ بلکې اسلام، د «اخروي» نېکمرغۍ او د مادي او معنوي ارزښتونو د لاس ته راوستو یوازېنۍ ځای «نړۍ» ښودلې ده.

یا «نړۍ» د جنت او الهي ارزښتونو د لاس ته راوستو وزله ده. په «اسلامي نړۍ لید» کې د «نړۍ او اخرت» ترمنځ اړیکه، د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د حدیث شریف له مخې داسې ویل شوې ده:

«النړۍ مزرعة الاخرة= نړۍ د آخرت لپاره د کرنې ځای دی.»
«آخرت» د «نړۍ» طبيعي او منطقي پيبره او محصول دی.
د نيکۍ يا بدۍ تخم، چې مو دلته کرلی وي، هلته به يې مېوه راټولوو، که اوربشې وکرو، اوربشې به اخلوو، که غنم کرو غنم به ريبوو، داسې نه ده، چې زقوم مو کرلی وي او کجورې به خورو.
حضرت رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د «معاش» او «معاد» ترمنځ اړيکه، په يوې لنډې جملې کې داسې ويلې ده:
«من لا معاش له، لا معاد له= څوک چې مادي ژوند و نه لري، اخروي ژوند به هم و نه لري.»
هغه کسان چې پخپل سياسي، وټيز او ټولنيز ژوند کې اسارت، روسته پاتېوالی، خواري او ذلت داسې گڼي، چې گنې د «استبداد»، «استعمار»، «استثمار» او «استحمار» له وجهې په دې حالت کې اخته شوي. الله به پر هغې نړۍ، ددې ربړونو اجر ورکړي، په حقيقت کې د دوی دا عقيده، له «اسلامي فکر» څخه نه ده راولاړه شوې، په دې باب، دوی له آخرته ناسمه پوهه لري، قرآن ورته وايي:

(( وَمَن كَانَ فِي هَـذِهِ أَعْمَى فَهُوَ فِي الآخِرَةِ أَعْمَى وَأَضَلُّ سَبِيلاً[1] =
او څوك چې په دې دنيا كې (د حق له پېژندو) ړوند وي؛ نو په آخرت كې به هم ړوند او ښه بېلارې وي.))

حضرت رسول اكرم صلى الله عليه و آله وسلم ويلي:

«لا رهبانية فى الاسلام= په اسلام كې له نړۍ مخ اړونه او گوښېدل نشته.»

دغسې په اسلامي روايتونو كې راغلي:

«د نړۍ لپاره داسې وسه، ته وا تل به دلته وسې او د آخرت لپاره داسې وسه، ته وا سبا به مرې.»

«زما له لارويانو نه دي، څوك چې نړۍ د آخرت او يا آخرت د نړۍ لپاره پرېږدي.»

---

[1] الاسراء\ ٧٢

**د انسان د کړنو انځورنه**

له قرآن کريم او اسلامي رواياتو استنباطيږي، چې نه يوازې انسان؛ بلکې کړنې او آثار يې هم ضبط او خوندي ساتل کيږي او له منځه نه ځي، او انسان په «قيامت» کې، خپلې ټولې کړنې او آثار «مصور» او «انځور شوې»ويني؛ داسې چې خپلې نيکې کړنې او آثار په خوار ښکلي او خوندوره بڼه او ناوړچاري او آثار يې په ناوړه او رنځوونکې بڼه ويني.

(( يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوَءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا[1]= پر هغه ورځ به هر څوك خپل ښه او بد کړه حاضر وومي او دا هيله څرگندوي، چې (كاش) دده او د بدو کړنو ترمنځ يې ډېر (زماني) واټن واى او پر بندگانو خوږمن الله تاسې له خپلې (سرغړونې) ويروي.))

---

[1] آل عمران\ ۳۰

(( وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا[1]= خپل ټول کړه به حاضر مومي او ستا پالونکی پرهېڅچا تېری نه کوي.))

په هغې نړۍ کې د انسان د کړنو او آثارو انځورېدل، د انسان د وجود نه بېلېدونې برخه وي.

قیص بن عاصم (رض)، چې د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له یارانو څنې و، د خپل ټبر له یوې ډلې خلکو سره، رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته ورغی او له آنحضرت یې نصیحت وغوښت. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم څوم جملې ورته وویلې، چې یوه یې دا ده: «د هغې نړۍ لپاره، همدا اوس ښه ملګري او دوستان غوره کړه، چې په حقیقت کې د هغې نړۍ ښه ملګري، د هر چا نېکې کړنې دي.»

[1] کهف| ۴۹

**د دنیوي او اخروي ژوند ترمنځ ګډ او بېل ټکي**

**لومړی ګډ ټکي:**

(۱) په دوړاو نړیو کې ژوند شته.

(۲) دلته او هلته، انسان پر خپل ځان او څه چې ورپورې اړه لري باخبره دی.

(۳) دلته او هلته، خوند و رنځ، ښادي و غم، نېکمرغي و بدمرغي دواړه شته.

(۴) دلته او هلته، پر انسان، حیواني او انساني ځانګړې غریزې واکمنې دي.

(۵) دلته او هلته انسان بشپړ ژوند کوي.

(٦)په دواړو نړیو کې فضا او اجرام شته.

**دویم؛ بېل ټکي:**

(۱) دلته زوکړه، کوشنیتوب، ځواني، زړښت او مرګ شته؛ خو هلته نشته.

(۲) دا د کار، عمل، فعالیت او کرلو ځای دی؛ خو هلته به د کړیو کړنو مېوه خوري.
(۳) دلته انسان د خپل برخلیک د بدلون لپاره عمل او د یون مسیر ته بدلون ورکولای شي؛ خو هلته یې نشي کولای.
(۴) دلته ژوند او مرگ سره مل دي. پردې سربېره، په ځانگړیو شرایطو کې بې روحه ماده (مړه ماده) پر ژوندۍ مادې او ژوندۍ ماده پر مړې مادې بدلیږي؛ خو هلته یوازې محض ژوند دی او هر څه پکې ژوندي وي.
(۵) دا د ځانگړیو زماني شرایطو، علتونو، لاملونو، یون او تکامل نړۍ ده؛ خو هغه نړۍ یوازې د الهي ملکوت او الهي ارادې نړۍ ده.
(٦) هلته د انسان له مخې پردې لرې کیږي او لیده کاته یې زیاتیږي، چې حقایق ښه درک کړای شي.
ق\ ۲۲: فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ

**د قیامت په اړه د قرآن کریم دلایل**

قرآن د معاد او د انسان د بیا راژوندي کولو پر موضوع، په عقلي او تجربي لاسوندونو استدلال کړی، چې دا استدلال، نه یوازې د قرآن کریم د لارویانو؛ بلکې نورو لپاره هم د پاملرنې وړ دی. ددې ډول استدلال، یوه ګټه دا ده چې موږ سیده د قیامت له بهیر سره اشنا کوي.

په دې باب د قرآن کریم استدلال په (الف) او (ب) برخو ویشو.

د (الف) په برخه کې درې ډوله استدلال شوی، چې د معاد «امکان» او شونتیا یې جوت کړی دی.

د (ب) برخه کې دوه ډوله استدلال شوی، چې نه یوازې د معاد «امکان»؛ بلکې د معاد «اړتیا» یې زباد کړی دی.

(الف)

**(۱) د انسان لومړني پنځون ته اشاره**

الله تعالی د قرآن مجید د آیتونو په ځینو برخو کې د معاد منکرین، د انسان لومړني پنځون ته ورمتوجه کړي او په دې باب یې تفکر او اندنې ته رابللي.

((أَلَيْسَ ذَلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَى [1]=ایا دا [الله] نشي کړای مړي راژوندي کړي؟! (هو! کړای شي) ))

((وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَى فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ [2]=او الله هغه (ذات) دی، چې هستونه پیلوي، بیا یې (هم) راستنوي او دا (کار) ورته اسان دی او په اسمانونو او ځمکه کې [د هر ډول پنځون] اوچتې بېلگې یوازې ده ته دي او هغه بریمن حکیم دی.))

---

[1] قیامت\ ۴۰:

[2] «روم- ۲۷»

((وَضَرَبَ لَنَا مَثَلاً وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ .قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ[1]=او مثال یې راته راوړ او خپل پنځون یې هېر کړ، و یې ویل: ((څوك به دا وراسته هډوکي راژوندي کړي؟! ووایه: ((دا هماغه بېرته را ژوندي کوي، چې په لومړي ځل یې پیدا کړل او هغه په هر (ډول) پنځون ښه پوه (او وسمن) دی؛ ))

[1] «یس - ۷۸ او ۷۹ آیتونه»

**(۲) د الله تعالی ناپایه ځواک ته اشاره**

د معاد منکرین، چې د انسان د بیا راژوندي کولو ستره پېښه په خپل محدود ځواک سنجوي؛ نو ناشونې ورته ښکاري او منکرېږي ترې؛ خو که پر هستۍ، د الله تعالی له نامحدود ځواکه سترګې پټې نه کړي؛ نو خپل انکار/ نته به ورته معقول او منطقي و نه برېښي؛ نو ځکه د قرآن حکیم په یو شمېر آیتونو کې، د الله تعالی نامحدود ځواک ته اشاره شوې او د الله تعالی د مطلق ځواک د څو بېلګو په ښکاره کولو استدلال شوی، چې د انسان بیا راژوندی کېدل شوني دي.

((أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَلَّن نَجْمَعَ عِظَامَهُ . بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ [1]= ایا انسان انګېري، چې هډوکي به یې راټول کړای نشو؟!

[1] قیامت\ ۳- ۴ آیتونه

هو موږ یې ان د ګوتو [د سرونو د بېلابېلو کرښو] په جوړولو وسمن یو.))

((وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّماوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ [1]=او دوی الله؛ څنګه چې ښایي، و نه پېژانده او د قیامت پر ورځ یې ټوله ځمکه (د قدرت) په ګورت کې ده او اسمانونه به یې (د قدرت) په ښي لاس کې نغښتي وي. هغه پاك دی او تر هغه ډېر لوړ دی، چې دوی یې ورشریکوي.))

((أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى بَلَى إِنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [2]=ایا نه پوهېږي، هغه الله چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي او په پنځون کې یې (بېوسې او) ستړی شوی نه دی (؛ نو) مړي هم

---

[1] زمر\ ٦٧

[2] احقاف\ ٣٣ آیتونه

راژوندي کولای شي؟ هو! (؛ ځکه) چې هغه پر هر څه وسي دی.))

**(۳) د مړګ نظام او په طبيعت کې د ژوند دوران**

په يو شمېر آيتونو کې، تر مرګ روسته ژوند، د پنځون/ پنځون له نواميسو او د طبيعت عادي جريان ګڼل شوی او هغوی چې له «معاد» نه انکار/ نټه کوي، په طبيعت کې د مړيو ژوندي کېدل او د ژونديو د مړه کېدو د همېشني بهير څېړنې ته رابلل شوي دي.

((يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ [1] = ژوندی له مړي راباسي او مړی (هم) له ژوندي او ځمکه تر خپل مړاوي کېدو روسته بيا ژوندۍ کوي [او ډېر ښکلی چې ي] او همداسې تاسې هم (له قبرونو) راايستل کېږئ.))

---

[1] روم/ ۱۹

همداراز رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي: «اذ رایتم الربیع فاکثروا اذکر النشور= چې پسرلی مو ولید؛ نو قیامت ډېر ډېر یادوئ»

نو ځکه پسرلی د طبیعت قیامت دی، چې ددې مثال په یادولو سره موږ د انسان او نړۍ قیامت باورولو ته رابولي.

(ب)

په دې برخه کې د معاد د «اړتیا» په اړه وېینه شوې ده.

**(۱) معاد د الهي عدالت/ نیاو په رڼا کې**

د قرآن کریم په یوه شمېر آیتونو کې، قیامت د «الهي عدل» لازمه ښودل شوی او نه پېښېدل یې د «عدل» پرخلاف ښودل شوی؛ نو څنګه چې له عالِم «الله تعالی» تېری او ظلم نه کوي؛ نو ځکه د قیامت په راتلو کې هیڅ شک او اړنګ نه پاتېږي.

د انسانانو ژوند ته په کتو، دا حقیقت څرګندېږي، چې په نړۍ کې ټول انسانان یو رنګ نه دي، ځینې چې د «الهي ارزښتونو» د عملي کولو په لار کې، د «ځان ځارونې» او ایثار/ سرښندنې پړاو

ته رسېدلي، ددې عمل «اجر» باید ووینې او ځینې چې د شیطاني او طاغوتي ناوړه موخو د سر ته رسولو په لار کې فعالیت کوي، باید د خپل عمل «سزا» ووینې.
بلخوا پر هستۍ واکمن نظام، اجازه نه راکوي، چې هر څوک د خپلو «صالحو» یا «فاسدو» کړنو، مناسب «اجر» او «سزا» ومومي؛ نو ځکه د «الهي» عدل غوښتنه ده، چې په دې نړۍ پسې، یوه بله نړۍ او نظام وي، چې پر ټولو د الله تعالی عدل پلی شي او له ټولو سره حساب وشي، ظالم له مظلومه جلا شي، فاسدان او فاسقان د ذلت او خوارۍ کندې ته او صالحان او نېکان، د پالونکي د همېشني نعمتونو مقام ته ورسي؛ نوځکه د قیامت یوه نامه «یوم الفصل» هم ده؛ یعنې د «حق او باطل»، «نېکانو او بدانو» د بېلتون ورځ.

((وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ=[1] او (ورته ویل کیږي:) ای مجرمانو نن (له نېکانو) بېل شئ.))

که بې له دې نړۍ، بله نړۍ نه وي؛ نو «نېکي» او «بدي»، «سوله» او «فساد» به یو شی ګڼل کېدای، چې دا هیڅکله له الهي عدل سره نه ښایي.

د پنځون نظام، پر «عدل» ولاړ دی، چې د حق خاوند ته هماغه خپل حق ورکول کیږي او هر څوک د خپلې وړتیا هومره، د «الهي لورنې» له پراخ دسترخوانه ګټنه کوي او د هیچا حق، ان که د «ړدن» د دانې هومره هم وي، نه ضایع کیږي، هر چا ته د خپلو کړنو سزا رسي.

١. ((أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاء مَّحْيَاهُم وَمَمَاتُهُمْ سَاء مَا

---

[1] یس\ ۵۹

يَحْكُمُونَ[1]= ايا هغوی چې بدې چارې او ګناهونه کړي، انګېرلې ده، چې موږ به دوی د هغو کسانو په څېر کړو، چې ايمان يې راوړی او ښه (چارې يې) کړي (داسې) چې د دوی ژوند او مرګ يو رنګ دی؟! څومره بده پرېکړه کوي!))

(( أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ[2]= ايا هغوی چې ايمان راوړی او ښه کړه وړه يې کړي، د هغه چا په څېر کړو، چې په ځمکه کې فساد کوي يا متقيان د بدچاريو په څېر کړو؟!))

---

[1] جاثيه| ۲۱

[2] ص| ۲۸

**(۲) معاد؛ د الهي حکمت په رڼا کې**

الله حکيم ذات دی، هر څه يې د يوې موخې لپاره پنځولي؛ نو ځکه د انسان او نړۍ پنځون هم د يوې موخې لپاره دی او داسې نه ده، چې انسان او نړۍ بې موخې پنځول شوې او هدو کومه موخه و نه لري.

قرآن کريم د الهي حکمت له مخې، په يوه شمېر آيتونو کې استدلال کړی، چې معاد چورلټ راتلونکی دی او داسې نه ده، چې د انسان په مرگ يې کړنې هم مړې کېږي؛ بلکې دا د «الهي حکمت» غوښتنه ده، چې د انسان ژوند په بله نړۍ کې، په نوي ډول دوام ومومي.

د قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې، د الله تعالی پر لوري د انسان ورتگ ته اشاره شوې ده:

((وَأَنَّ إِلَى رَبِّكَ الْمُنتَهَى[1]= او داچې (د کار) پای یوازې ستا د پالونکي پر لوري ده))
د الله تعالى پر لوري د انسان ورتګ ددې څرګندونکی دی، چې انسان د چټي او بېځايه کار لپاره نه دی پنځول شوی.
((أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ[2]= نو ایا تاسې انګېرئ، چې موږ خوشې پیدا کړي یاست او داچې زما لوري ته به نه راګرځول کېږئ؟!))
د قرآن کریم په ډېرو آیتونو کې، نه یوازې د انسان؛ بلکې د ټولو چارو ورتګ، د الله تعالى پر لوري دی؛ لکه

---

[1] نجم| ۴۲
[2] المؤمنون| ۱۱۵

((شفاعت بشپړ د الله (په واک کې) دی؛ (ځکه) د اسمانونو او ځمکې واکمني یوازې د هغه ده، بیا یې لوري ته ورستنول کیږئ.)) وواېه:((لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ[1]=

نو د «الهي حکمت» غوښتنه ده، چې نړۍ او انسان، پر خپل تلونکي مسیر د نه زوالېدونې موخې پر لوري روان دی.

پای

[1] الزمر| ۴۴ آیت

**سرچينې**

په دې څېړنه کې له لاندې کتابونو ګټنه شوې ده:

۱-تفسير تفهيم القرآن

۲-تفسير نمونه

۳-مقدمه بر جهان بينی اسلامي (استاد شهيد مطهری)

۴-فاطمه فاطمه است (شهيد دکتر شريعتی)

۵-سيره ابن هشام

٦-فلسفه امامت و رهبري (محمدی ری شهری)

۷-زندگی بعد از مرگ (شهيد سيد قطب)

۸-توحيد، رسالت او له مرګه روسته ژوند عقلی ثبوت (مرحوم مودودی)

۹-چهار امام اهل سنت (عبدالروف توکلی)

۱۰-شرح الاربعين النوويه

۱۱-فروغ ابديت (جعفر سبحانی)

۱۲-ويژگيهای ايدولوژی اسلامی (شيهد سيد قطب)

۱۳-اسلام شناسی درسهای دانشگاه مشهد (شهيد دوکتور شريعتی).

١٤- د اسلام ګروهيز آرونه- محسن قرآيتي

۱۵- ځوانانو لپاره د اصول دين پنځوس زده کړې- استاد ناصر مکارم شيرازي
۱۶- درسهای اصول دين- شيخ وحيد خراسانی
۱۷-اصول عقايد برای جوانان- شيخ آصف محسنی قندهاري